
# دقربانی فضائل او مسائل

پښتو

دَ قربانۍ غونډے اهمه فریضه او دَ هغے مسائل ، تاریخ ، فضائل او احکاماتو باندے مشتمل یو نایاب نسخه.



مرتب

مولانا مفتی مُحمّد ایاز درّانی حفظہ اللہ صاحب

العلم پبلیکیشنز

# د قربانی فضائل او مسائل

ابومعاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور
091-2590315

# فهرست مضامین


د ذی الحجې دعشرې فضیلت او حرمت ........................................ 7

د ذی الحجې د عشرې احکام :................................................. 8

د عرفې د ورځې فضیلت :....................................................... 9

د عرفې د ورځې تعیین :....................................................... 10

تکبیرات تشریق :................................................................ 11

تکبیراتِ تشریق په سړی،ښځه مقیم او مسافر ټولو باندې واجب دی: .......... 11

تکبیرات که وئیل هیر شی نو څه به کوی؟: ...................................... 11

د فوت شوې مونځ د قضاء نه پس تکبیرات :................................... 12

د تکبیرات تشریق فلسفه :...................................................... 12

اخترونه.......................................................................... 13

په اسلام کښې هم داسې دوه ورځې مقررشوې دی:............................. 13

د عید لغوی او اصطلاحی تعریف :............................................. 15

د عیدالفطر (وړوکی اختر) سنتونه :............................................ 16

د عیدالاضحیٰ سنتونه :......................................................... 16

د اختر مونځ ...................................................................... 17

د اخترونو دمونځونو وجوب او دصحت شرائط :................................ 17

د اختر دمونځ احکام ومسائل.................................................. 17

عیدګاه د ښار نه بهر کیدل مسنون دی :....................................... 17

د اختر دمونځ نه مخکښې نفل کول مکروه دی :................................ 18

د اختر دمونځ نه مخکښې قضا مونځ کول جائز دی :.......................... 18

د اختر دمونځ وخت :........................................................... 18

د اختر د خطبې مستحب وخت :................................................ 18

د اختر مونځ که په اوله ورځ ادا نه کړې شی :................................. 19

د اختر دمونځ طریقه : ........................................................ 19
د اختر مونځ دوه رکعته دي : ........................................................ 19
د اختر د مونځ ادا کولو متعلق مسائل واحکام ........................................ 20
د اختر دمونځ دپاره جمعَ کول شرط دی : ............................................. 20
د اخترونو د مونځونو واجبات :...................................................... 20
د څو سړو د اختر مونځ پاتې شو :................................................... 20
د چا چه تکبیرات پاتې شو : ......................................................... 21
امام ئې د دویم رکعت په رکوع کښې اوموندلو :....................................... 21
د چا نه چه دواړه رکعتونه لاړل :..................................................... 21
په دویم رکعت کښې تکبیراتو لره د قرأت نه مؤخر کول واجب نه دی ........ 22
امام تکبیراتو لره هیر کړل او مخکښې لاړو:......................................... 22
د اختر په مونځ کښې سجده سهوه :................................................... 22
کوم سړی چه بهر ملک کښې د اختر مونځ اوکړو او راغلو:............................ 22
د عیدالاضحی (لوې اختر) قربانی .................................................. 23
لغوی او اصطلاحی تعریف : ......................................................... 23
د قربانۍ فضیلت او اهمیت : ........................................................ 23
قربانی او روشن خیالی ............................................................... 25
ددې آیتونو او احادیثو نه لاندینی امور ثابت شو :................................... 27
د قربانۍ نه څه سبق حاصل کړې شی؟ ............................................... 29
د قربانۍ د وجوب شرائط :.......................................................... 31
د ذکرشوې شرائط په پوره وخت کښې موندل ضروری نه دی:......................... 31
په آخر وخت کښې کو م یو شرط فوت شو :............................................ 32
د قربانۍ ورځې : ...................................................................... 32
د قربانۍ طریقه : ..................................................................... 32
د قربانۍ په وخت دعا ............................................................... 34
د حلالو لو نه مخکښې چه کومه دعا نقل ده هغه دا ده : ............................ 34
د قربانۍ مسائل او احکام ........................................................... 35

د قربانۍ کولو په حوالې سره مسائل.............. 35
په ښار او کلي کښې فرق :.............. 35
مستحب وخت :.............. 36
په اوله ورځ ئې مونځ اونکړو :.............. 36
په یو ځای کښې داختر مونځ د قربانۍ دپاره کافي دې :.............. 36
په وخت کښې فرق په کوم لحاظ سره ؟.............. 36
په شپه کښې قرباني کول :.............. 37
فقیر د قربانۍ نه پس مالدار شو :.............. 37
که حاجي مسافر وي نو قرباني واجب نه ده :.............. 37
قرباني په چاباندې واجب ده :.............. 37
چاته ورکړې قرض به هم په نقدو کښې شمار وي:.............. 38
د اخستلې شوې قرض ویستلو سره دنصاب حساب دې اولګولې شي :.............. 39
د مختلف ناقص نصابونو په صورت کښې د زکوة او قربانۍ د وجوب مسئله .. 39
جدول.............. 45
د کور د مشر قرباني د نورو دپاره کافي نه ده :.............. 46
د قربانۍ دپاره په مال باندې کال تیریدل ضروري نه دي:.............. 46
د قربانۍ په حوالې سره د څو غلطیانو اصلاح.............. 47
په شرکاؤ کښې د هریو صحیح العقیده مسلمان کیدل ضروري دي:.............. 47
صحیح العقیده مسلمان :.............. 47
د قربانۍ دپاره د ثواب نیت ضروري دې :.............. 48
په دیوالونو باندې وینه لګول :.............. 48
د کور په دروازه باندې ښکر رازوړندول :.............. 48
حرام آمدن والا لره شریک کول :.............. 48
د قربانۍ پورې اوږې تږې اوسیدل دې ته روژه وئیل :.............. 49
د قربانۍ د څاروؤ عمرونه :.............. 49
په څاروؤ کښې د عیبونو بیان.............. 50
دکوم عیب دار څاروؤ قرباني چه جائز نه ده :.............. 50

ددې اندامونو چه څومره حصه نه وی نو قربانی جائز نه ده ؟ ........................ 51
د کومو څاروؤ قربانی چه جائز، خو خلاف اولیٰ ده: ........................ 52
د قربانۍ د څاروؤ عیبونه ........................ 54
د اَچې غوا قربانی : ........................ 57
د حامله څاروی قربانی : ........................ 58
د څاروی او قربانی کونکی سره متعلق مسائل ........................ 59
څاروی دَ اخستلو نه پس عیب دار شو : ........................ 59
دخصی څاروی قربانی جائز بلکه افضل ده : ........................ 59
متفرق مسائل : ........................ 59
د قربانۍ څاروې بدلول : ........................ 60
دقربانۍ په نیت ئې څاروې واخستلو،بیاهغه ورک شو یا مړ شو : ........................ 61
په اوښ او غوا کښې دشریکانو تعداد : ........................ 63
د حلالولو نه پس چالره شریک کول : ........................ 63
څاروې ئې متعین کړې وو خو قربانی اونه کړې شوه: ........................ 63
مالدار څاروې متعین کړې نه وو ، ورځې تیرې شوې : ........................ 63
فقیر د ساتلې شوې څاروی د قربانۍ نیت اوکړو،بیائې قربانی اونکړه: ........................ 64
په یو څاروی کښې دقربانۍ او عقیقې یا نذر نیت کول : ........................ 64
څاروې هلاک شو : ........................ 64
د قربانۍ وصیت وتوکیل : ........................ 64
د غیر دطرف نه قربانی : ........................ 65
د څاروی د حلالولو او تقسیم کولو سره متعلق مسائل ........................ 67
د حلالې دپاره راغورزولو سره عیب پیدا شو : ........................ 67
بسم الله،الله اکبر صرف په حلاله کونکی باندې واجب دی: ........................ 67
د ښځو ذبیحه هم حلال ده : ........................ 67
ذبح د فوق العقد حکم : ........................ 68
څاروې بې قابو شو نو ذبح اضطراری جائز ده : ........................ 68
د حلال څاروؤ اووه څیزونه خوړل حرام دی : ........................ 69

د مړي د قربانۍ غوښه خوړل : ............ 69
د وزن د مشقت د بچ کولو نه آسان تدبير : ............ 69
غوښه تقسيم کول په کوم صورت کښې ضروري نه دي؟ ............ 69
د قربانۍ د غوښې د رې حصې کول مستحب دی : ............ 70
د قربانۍ او نذر سره متعلق د عوامو ............ 70
بعضې غلطې مسئلې ............ 70
د ذبحې غلطۍ : ............ 72
د قربانۍ د څرمنې احکام ............ 73
* څرمن په خپل استعمال کښې راوستل جائز دی : ............ **73**
* څرمن يا دهغې جوړ شوې څيز هبه جائز ده : ............ **73**
* څرمن په معاوضه کښې ورکول جائز نه دی: ............ **74**
*څرمن خرڅول : ............ **74**
*د څرمن مصرف : ............ **75**
* پلار که مالدار وی نو بچو ته صدقه ورکول : ............ **75**
* سيّد ته صدقه ورکول: ............ **75**
* مورپلار يا اولاد ته صدقه ورکول : ............ **75**
* د څه خدمت په معاوضه کښې صدقه ورکول : ............ **76**
*څرمن او دهغې رقم په طور د تمليک ورکول ضروري دی : ............ **76**
*مسکين د صدقې وصولولو نه پس چه چرته غواړی خرچ کولې شی : ............ **76**
* حيله تمليک : ............ **77**
* څرمن هم په شرکاؤ کښې شريکه ده: ............ **77**
* د قربانۍ پيړې،رسې وغيره: ............ **78**
* د څرمن اخستلو نه پس هرقسم تصرف پکښې جائز دی : ............ **78**
* او که چا په زبردستۍ څرمن يوړله يا چا پټه کړه : ............ **78**

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د ذی الحجي دعشري فضیلت او حرمت

څنګه چه الله تعالی دهفتې په اوؤه ورځو کښې جمعې ته،د کال په دولسو میاشتوکښې رمضان المبارک ته په رمضان المبارک کښې په درې عشرو کښې آخری عشرې ته خاص فضلیت حاصل دې،دغه د ذی الحجې آخری عشره هم د فضل او رحمت خاص عشره ګرځولې شوې ده. په دې کښې دبدن هر نیک عمل الله تعالی ته ډیر محبوب او دهغه په نزد ددې ډیر لوې قیمت او اجر دې.

☆ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ اَیَّامِ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِیْهِنَّ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَیَّامِ الْعَشَرَةِ۔ [رواه البخاری]

”سیدناعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چه الله تعالی ته نیک عمل چه په دې ورځو کښې څومره محبوب دې دومره په نورو ورځو کښې نه دې“.

☆ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَخَلَ الْعَشَرُ وَاَرَادَ بَعْضُکُمْ اَنْ یُّضَحِّیَ فَلَا یَاْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا یَقْلِمَنَّ ظُفْرًا۔[رواه مسلم]

”ام المؤمنین سیده ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه د ذی الحجې اولنې عشره شروع شی(یعنی د ذی الحجې میاشت اولیدلې شی) اوپه تاسو کښې دچا اراده د قربانۍ وی نو هغه له پکار دی چه اوس نه تر قربانۍ کولو پورې خپل ویښته یا نوکونه نه کټ کوی“.

په اصل کښې دا عشره د حج ده.او ددې ورځو خاص الخاص عمل هم حج دې. خو حج چونکه مکې معظمې ته تلو سره ادا کیدې شي،هغه هم په

عمر کښې صرف یوځل او هغه د وس په خاوندانو باندې فرض کړې شوې دې.دهغې خاص برکات هغه بنده حاصلولې شی چه هلته حاضر شی او حج اوکړی.خو الله تعالی په خپل رحمت سره ټول اهل ایمان ته دا موقع ورکړې ده چه کله د حج دا ورځې راشی نو په خپل خپل ځاې باندې اوسیدو سره دې هم د حج او حاجیانو سره یو نسبت پیدا کړی او دهغوی په څو عملونو کښې دې شریک شی، د لوې اختر د قربانۍ راز هم دادې.

حاجیان په لسمه ذی الحجه باندې په منیٰ کښې د الله تعالی په دربارکښې خپلې قربانیانۍ پیش کوی. دټولې دنیا نور مسلمانان چه په حج کښې شریک شوې نه دی هغوی ته حکم دې چه هغوی په خپل خپل ځاې ټهیک هم په دغه ورځ د الله تعالی په دربار کښې دخپلو قربانیانو نذر اوکړې او څنګه چه حاجی د احرام تړلو نه پس ویښته یا نوکونه نه کټ کوی،هم دغه شان هغه مسلمان چه دقربانۍ کولو ا راده لری د ذی الحجې میاشت په نظر راتلو سره دې ویښته یا نوکونه نه کټ کوی،او هم په دې طریقه باندې دې د حاجیانو سره یو مناسبت او مشابهت پیدا کړی.

څومره قدرې مبارک هدایت دې چه په هغې چلیدو سره د مشرق او مغرب مسلمان دحج انوار او برکاتو کښې حصه اخستلې شی.

**د ذی الحجې د عشرې احکام:**

سیده اُمِ سلمهؓنه روایت دې فرمائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل:"کله چه د ذي الحجې عشره شروع شی اوپه تاسو کښې دچا دقربانۍ اراده وی نو قربانۍ کولو پورې دې هغه دبدن د کومې حصې ویښته نه اخلی او نه دې نوکونه کټ کوی".[ صحیح مسلم]

دا استحبابی حکم صرف د قربانۍ کونکو سره خاص دې څنګه چه دحدیث الفاظوکښې ددې صراحت دې. هغه هم په دې شرط چه د نوم نه لاندې او ترخونو صفائې او دنوکونو په کټ کیدو باندې څلویښت

ورځې نه وی تیرې شوې. که څلویښت ورځې تیرې شوې وی نو په ذکرشوې کارونو کښې صفائی واجب ده.

**د عرفې د ورځې فضیلت:**

د ذی الحجې په عشره کښې نهمې ذی الحجې ته هم فضیلت حاصل دې.په دې ورځ باندې حجاج کرام چونکه د حج اعظم رکن ادا کولو سره د الله تعالی په دربارکښې په میدانِ عرفات کښې جمع کیږي نوددوی په دې عظیم عمل کښې غیر حاجیانٔ هم دالله په دربارکښې خپل ځان لره د څه اعمالو په ذریعې سره نزدې کوی او هغه عمل دې روژه نیول. په دې ورځ د روژې نیولو ډیرلوې فضیلت راغلې دې په حدیث کښې دی:

روی ابو قتادةرضی اللہ عنہ اَنَّ النَّبِیَّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ: صِیَامُ یَوْمِ عَرَفَةَ اَحْتَسِبُ عَلَی اللّٰہِ اَنْ یُکَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِیْ قَبْلَهٗ وَالسَّنَةَ الَّتِیْ بَعْدَهٗ۔ [الصحیح لمسلم:۲/۸۱۹]

**ترجمه:**

سیدناابوقتادهؓ نه روایت دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل د عرفې د روژې متعلق زه دالله تعالی نه امید کوم چه هغه ددې په وجه دیوکال مخکښې او یو کال روستو (ګناهونو)معاف کړی.

په دې وجه ټول فقهاء ددې ورځې دروژې د مستحب کیدو قائل دی. علامه خطیب بغدادیؒ فرمائی چه په پوره کال کښې د روژه نیولو دپاره د رمضان نه پس دا ورځ دټولو نه زیات فضیلت والا ده ځکه چه په صحیح مسلم کښې روایت دې:

مَامِنْ یَومٍ اَکْثَرَ مِنْ اَنْ یُّعْتِقَ اللّٰہُ فِیْهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْیَوْمِ عَرَفَةٍ۔
[الصحیح لمسلم:۲/۹۸۳]

یعنی الله تعالی د عرفې په ورځ کښې د نورو ورځو په نسبت زیات بندګانو لره دجنهم د اُور نه خلاصې ورکوی.

**د عرفې د ورځې تعيين:**

نن صبا دا خبره په عوامو کښې کافی زيربحث ده چه د عرفې د ورځې روژه مونږ په کومه ورځ اونيسو ځکه چه عموماً چه کله په پاکستان کښې دنهمې(۹) ذې الحجې ورځ وی نو په هغه ورځ د سعودی عرب د لوې اختر ورځ وی.

او هلته چه کله د وقوف عرفات ورځ وی نو دلته د اتمې ذی الحجې ورځ وی لهذا دا تشويش وی چه که مونږ د نهمې ذی الحجې روژه اونيسو نوپه کومه ورځ چه حاجيان اختر مناوهي او د اختر په ورځ خو روژه نيول جائز نه دی او په کومه ورځ چه عرفه وی نو دلته اتمه ذی الحجه وی. په دې صورت حال کښې څه اوکړې شی؟

ددې آسان جواب دادې چه د احاديثو او فقهاؤ د آراء نه چه کوم فضيلت ثابت دې هغه د نهمې ذی الحجې دې. اوس په دې کښې دهرملک د رؤيت ځانله اعتباردې. زمونږ په ملک کښې په کومه ورځ چه نهمه ذی الحجه وی په هغه ورځ روژه نيول پکار دی ځکه چه زمونږ په ملک کښې رؤيت هلال دپاره په ملکی او علاقائی سطح باندې کميټيانې جوړشوې دی اوس دا وئيل چه په سعودی عرب کښې اختر دې نو دلته روژه نيول جائز نه دی دا خبره غلطه ده. دهغې په حساب او د رؤيت مطابق دهغوی اختر وی. زمونږ د رؤيت او حساب مطابق نو زمونږه اختر نه وی، لهذا د عرفې روژه دخپل رؤيت او حساب مطابق په نهمه ذی الحجه نيول پکار دی. دارنګه په الموسوعة الفقهيه کښې دی:

**اِتَّفَقَ الْفُقَهَآءُ عَلٰى اِسْتِحْبَابِ صومِ يَوْمِ عَرَفَةٍ لِغَيْرِ الْحَاجِّ وَهُوَ الْيَوْمُ التَّاسِعُ مِنْ ذِى الْحَجَّةِ۔**

” دفقهاؤ په دې باندې اتفاق دې چه د عرفې د ورځې روژه د غير

حاجی دپاره مستحب ده او دعرفې ورځ په نهمه ذی الحجه باندې ده".
لهذا روژه نیول هم په نهمه ذی الحجه باندې نیول پکار دی په دې کښې به دهرملک او علاقې دخپل رؤیت اعتبار وی.

**تکبیرات تشریق:**

تکبیراتتشریق یعنی اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ،د نهمې ذی الحجې دسحر نه د دیارلسمې ذی الحجې د مازیګر پورې د هر مونځ نه پس د مفتی بهِ قول مطابق واجب دی. بعضې خلق درې ځله وئیلو لره ضروری ګنړی چه غلط دی، دهرمونځ نه پس یو ځل وئیل واجب دی.

**تکبیرات تشریق په سړی، ښځه مقیم او مسافر ټولو باندې واجب دی:**

په ذکرشوې تاریخونو کښې دتکبیرات تشریق وئیل په جمع مونځ کونکی او ځانله مونځ کونکی ،دښار په اوسیدونکي او دکلیپه اوسیدونکی،مقیم او مسافر،سړی او ښځه ټولو باندې واجب دې.البته سړې به ئې لږ په متوسط اوچت آواز باندې وائی او ښځه به ئې په مزه. ډیر خلق په دې کښې غفلت کوی، نه ئې لولی، یائې په مزه وائی،ددوی اصلاح ضروری ده.

**تکبیرات که وئیل هیرشی نو څه به کوی؟:**

دتکبیراتو هیریدو په صورت کښې د سلام نه فوراً پس که دمونځ څه منافی کار اونکړې نو په یاد راتلو باندې ئې وئیل پکار دی،او که د مونځ منافی څه کار ئې اوکړو، مثلاً په آواز سره ئې اوخندل، په قصدسره ئې اودس مات کړو،په قصد یا په سهوه ئې خبرې اوکړې،دمسجد نه اووتلو، په میدان کښې ئې مونځ اوکړو،او دصفونو نه بهر اووتلو تو تکبیرات فوت شو.اوس په وئیلو سره به ادا نه وی، په دې باندې استغفار وئیل ضروری دی.

**د فوت شوې مونځ د قضاء نه پس تکبيرات:**

امام د تشريق د ورځو فوت شوې مونځ ددې کال د تشريق په ورځو کښې ئې قضاء کوی، نو دهغې نه پس هم تکبيرات تشريق وئيل واجب دی.البته که د تشريق دورځو نه مخکښې کوم مونځ د تشريق په ورځو کښې دهغې قضاکوی يا دتشريق د ورځو مونځ د تشريق د ورځو نه پس دهغې قضا کوی نو تکبيرات دې نه وائی.

**د تکبيرات تشريق فلسفه:**

تکبيراتِ تشريق پنځه ورځ دهر مونځ نه پس ولې وئيلې شی؟ ددې وجه داده چه د الله تعالی لوئی او عظمت په زړونو کښې پوخ شی. دکوم ذات چه په زړونو کښې عظمت وی سړې دهغه دکوم حکم نه مخ نه اړوی،بلکه په اشارو باندې چليږی، دهغه خوښه مخې ته ايخودو سره عمل کوی. دهغه په مقابله کښې د چا حکم،دچا يره او ملامت ، او دچامحبت لره په خاطر کښې نه راولی اوپه زړه کښې چه دچا عظمت نه وی،سړې دهغه د باربار حکم هم پرواه نه کوی.

تکبيرات تشريق شو يا اذان واقامت او دمونځ تکبيرات، په دې کښې بار بار مسلمانانو لره خوزولې شی چه دالله تعالی عظمت په زړونو کښې کينوئ.چه دالله تعالی دحکمونو په مقابله کښې دنفس وشيطان،عزيزانو او رشته دارانو، د دوست او احباب دچاهم خبره مه منئ.عظمت او لوئی خو صرف دالله تعالی دپاره ده،صرف دهغه اطاعت کوئ او دهغه په اطاعت کښې دراتلونکی هر رکاوټ مقابله کوئ.

دا حقيقت مخې ته ايخودلو سره دا تکبيرات وئيل پکار دي، بيا خپله محاسبه کول پکار دی چه دالله تعالی عظمت او محبت په زړه کښې پيدا کيږي يا صرف دطوطی په شان رټې لګوی؟ دالله تعالی نافرمانی پريږدم او دآخرت فکر په زړه کښې پيدا کيږي يا ورځ په

ورځ د دنیا په هوس کښې اضافه کیږی؟

یادساتئ! د بدنی مرضونو په نسخوسره څه فائده حاصلولو دپاره که نیت او اراده هم نه کوی نو بیابه هم فائده کیږی، خو دروحانی مرضونو چه کومې نسخې الله تعالی او رسول الله ﷺ بیان کړې دی دهغې نه دشفاء حاصلولو قصد او اراده وی نو څه وجه نشته چه باربار د الله تعالی د لوئې په ژبه باندې اقرار کولو باوجود دې په زړه اثر نه وی.

**اخترونه:**

دهر قوم څه خاص تهوار او جشن ورځ وی، په کوم کښې چه ددې قوم خلق دخپلې خپلې سطحې د حیثیت مطابق ښه لباس اچوی او ښه خوراک پخوی، ورسره په نورو طریقو باندې دخپل دننه خوشحالئ هم اظهار کوی،دا ټول ګویا د انسانی فطرت تقاضا ده. په دې وجه د انسانانو څه طبقه او فرقه داسې نشته چه دهغوی په نزد تهوار او دجشن څه خاص ورځ متعین نه وی.

**په اسلام کښې هم داسې دوه ورځې مقررشوې دی:**

یو وړوکی اختر، او دویم لوې اختر. بس همدا د مسلمانانو اصلی مذهبی او ملی تهوار دې. ددې نه علاوه چه مسلمانان کوم تهوار(اختر) مناوهی ددې څه مذهبی حیثیت او بنیاد نشته، بلکه په اسلامی نقطه نظر سره په دې کښې اکثر خرافاتو باندې مبنی دی.

دمسلمانانو اجتماعی ژوند هغه وخت شروع کیږی کله چه رسول الله ﷺ هجرت فرمائیلو سره مدینې ته راغلو. د وړوکی او لوې اخترونو ددې دواړو اخترونو سلسله هم هغه وخت نه شروع شوه.

څنګه چه دټولو په علم کښې دی چه وړوکی اختر د رمضان المبارک په ختمیدو باندې د شوال په اول تاریخ باندې مناوهلې شی او لوې اختر په لسمه ذی الحجه باندې. رمضان المبارک په دینی او

روحانی حیثیت سره د کال په دولسو میاشتو کښې دټولو نه مبارکه میاشت ده. هم په دې میاشت کښې قرآن مجید نازل شوې دې، ددې پوره میاشت روژې په مسلمانانو باندې فرض کړې شوې دی، ددې په شپو کښې په یو مستقل جمع (جماعت) سره د مونځ اضافه کړې شوې ده او په هرقسمه نیکو کښې داضافې ترغیب ورکړې شوې دې. الغرض دا پوره میاشت د خواهشاتو دقربانۍ او مجاهدې او دهرقسمه طاعاتو او عباداتو د کثرت میاشت ګرځولې شوې ده.ددې میاشتې په ختمیدو باندې چه کومه ورځ راشی د ایمانی او روحانی برکتونو په لحاظ سره هم هغه دټولو نه زیاته ددې خبرې مستحقه ده چه دې لره دې امت جشن او خوشحالۍ ورځ او تهوار جوړکړی، دارنګه هم دې ورځ لره عیدالفطر (د وړوکی اختر ورځ) ګرځولې شوې ده.

هر کله چه لسمه ذی الحجه هغه تاریخی ورځ ده په کوم کښې چه د امت مسلمه موسس او مورث اعلیٰ سیدنا حضرت ابراهیم علیه السلام په خپل خوب کښې دالله تعالی حکم او اشارې لره موندلو سره خپل لخت جګر سیدنا اسماعیل علیه السلام لره دهغه په رضامندۍ سره د قربانۍ دپاره دالله تعالی په دربار کښې پیش کولو سره دهغه په مرۍ باندې چاړه راخکلو سره دخپلې رښتونی وفادارې او کامل تسلیم او رضا ثبوت ورکړې وو او الله تعالی دعشق ومحبت اوقربانۍ په دې عظیم امتحان کښې هغه لره کامیاب ګرځولو سره حضرت اسماعیل علیه السلام لره ژوندې ساتلو سره دهغه په ځاې دیو څاوری قربانی قبوله کړې وه،او دحضرت ابراهیم علیه السلام په سر باندې ئې د "اِنِّیْ جَاعِلُکَ لِلنَّاسِ اِمَامًا"تاج کیخودلو. او بیائې دهغه ددې ادا نقل لره دقیامت پورې "رسم عاشقی" اوګرځولو. بس که کچرې یوې ورځې لره دڅه عظیم تاریخی واقعې یادګار په حیثیت سره تهوار (اختر)

ګرځولي شي نوددې امت مسلمه دپاره، چه د ملت ابراهيمي وارث او د اسوه خليلي نمائنده امت دې، لسمه ذى الحجه اوګرځولي شوه. په کومه وادئ غير ذى زرع کښې چه دحضرت اسماعيل عليه السلام د قربانۍ دا منفرد واقعه پيښه شوې وه هم په هغه وادئ کښې دپوره عالم اسلام حج سالانه اجتماع اودهغې مناسک او قربانۍ کيږى دا واقعه ګويا ا صل او د اولې درجې يادګار او په هر اسلامى ښار او کلى کښې د لوې اختر تقربيات مونځ او قربانى وغيره هم ددې ګويا نقل او د دويمې درجې يادګار دې. بهرحال هم ددې دواړو (اول شوال او لسم ذى الحجې) ددې خصوصياتو په وجه سره دې لره يوم العيد او د امت مسلمه تهوار اوګرځولي شو.

حضرت شاه ولى الله ؒ فرمائى چه : دمسلمانانو د خوشحالې او مسرت ورځ او تهوار محض لهولعب نه شي جوړيدې بلکه دملت ابراهيمي شعائرو لره د ژوندى کولو او دالله د اطاعت او جذبې سره د سرشار مسلمانانو د خوشحالو په ورځو کښې دوه اخترونه مقررشو چه په هغې کښې ددې حقيقت اظهار دې چه دمومن دخوشحالۍ انتهاء همداده چه دهغه په تندى باندې دخپل خالق او مالک په مخکښې سجده اوکړى او هغه دصدقه فطر او قربانۍ په شان حکمونو په ذريعې سره دخپل مسلمانانو رونړو سره دخپل محبت وهمدردۍ اظهار اوکړى.

**د عيد لغوى او اصطلاحى تعريف:**

د عيد اصل عود دې يعني واپس کيدل. نو دالله تعالى احسانات او انعامات هرکال هم په دې ورځوکښې باربار واپس کيږى هم ددې نيک فالۍ په وجه سره دې ته عيدالفطر(وړوکى اختر) وائى.

او په اصطلاح کښې دشوال اول تاريخ لره د عيدالفطر او د ذى الحجې لسم تاريخ ته عيدالاضحىٰ (لوې اختر) وائى .

## د عیدالفطر (وړوکی اختر) سنتونه:

۱۔ دعیدالفطر په ورځ عیدګاه ته د تلو نه مخکښې څه خوږ څیز خوړل بهتردی مثلاً کهجوره وغیره.
۲۔ عیدګاه ته دتلو نه مخکښې غسل کول، مسواک کول، خوشبو لګول ښه لباس اچول.
۳۔ د مونځ نه مخکښې صدقه فطر (سرسایه) ورکول.
٤۔ په مخ باندې مسکې کیدل،تازګی او د خوشحالې اظهار کول .
٥۔ دعام معمول نه سحر وختی پاسیدل.
٦۔ عیدګاه ته پیدل تلل.
٧۔ عیدګاه ته دتلو په وخت تکبیرات لوستل جهراً وی یا په پټه وی.
٨۔ عیدګاه ته رسیدو سره خاموشی اختیارول،وقار او عزت سره کیناستل.
٩۔ په کومه لار چه عیدګاه ته تلې وی په هغه لار نه راتلل بلکه لار بدلول.
١٠۔ د اختر په ورځ مسلمانانو سره ملاویدو په وخت دعائیه کلمات وئیل چه په هغې کښې داختر مبارکی هم وی.
١١۔ د وړوکی اختر په خطبه کښې د صدقه فطر احکامات بیانول.

## د عیدالاضحٰی سنتونه:

د عیدالاضحی (لوې اختر)باقی احکام خو د وړوکی اختر په شان دی البته څو امتیازی احکام دادی:

۱۔ دلوې اختر په موقعه باندې سنت دادی چه داختر دمونځ پورې به څه هم نه خورې نه څکې، بلکه مستحب خو دادی چه دقربانۍ غوښه دهغه ړومبې خوراک وی.
۲۔ دلوې اختر په ورځ تکبیرات په اوچته آواز سره وئیل.
۳۔ د لوې اختر په خطبه کښې دقربانۍ د احکامو تذکره کول.

# د اختر مونځ

**د اخترونو دمونځونو وجوب او دصحت شرائط:**

د اخترونو دمونځونو د وجوب او صحت دپاره هم هغه شرطونه دی چه کوم دجُمعې دپاره دی البته یو شرط داسې دې چه د جُمعې د مونځ دپاره خو شرط دې خو داخترونو دمونځونو دپاره شرط نه دې او هغه خطبه یعنی خطبه دجُمعې دمونځ دپاره شرط دې هرکله چه داخترونو دپاره سنت دې په دې وجه د جُمعې دمونځ نه مخکښې او داخترونو دمونځ نه پس وی.

د اخترونو دمونځ دپاره شرائط د وجوب دادی چه مسلمان عاقل، بالغ،آزاد،مذکر،مقیم، دیرې نه پُرامن او په سترګو او خپو باندې روغ وی یعنی نابینا او معذوره نه وی.

او د اخترونو دمونځ شرائط صحت مصر یعنی ښارکیدل یا فنائې مصر،سلطان یادهغه نائب وی،وخت،جمعَ او اذن عام دې.

# د اختر دمونځ احکام ومسائل

**د عیدګاه د ښار نه بهر کیدل مسنون دی:**

رسول اللهﷺ به داختر مونځ دپاره همیشه د ښار نه بهر وتلو او ادا فرمائیلو به ئې،صرف یوځل دباران په وجه سره بهرئې تشریف یونړلو.په دې وجه دعیدګاه دښار نه بهرکیدل سنت او دغه شان په دې اجتماع کښې د اسلام شان وشوکت مظاهره هم ده. خو په لوې لوې ښارونو کښې بهر وتلو سره داختر مونځ کول مشکل دی،په دې وجه په ښار کښې دننه لوې میدان یا په وخت دضرورت په مسجدکښې مونځ ادا کول بغیر دکراهت نه جائز دی. خو حتی الامکان د محلې د وړو وړو اجتماګانو په ځاې هم یو مقام باندې د لوې اجتماع کوشش دې اوکړې شی.

**د اختر دمونځ نه مخکښې نفل کول مکروه دی:**

د اختر دمونځ نه مخکښې نفل کول مطلقًا مکروه دی،خواه په کورکښې اوکړی یا عیدګاه کښې. حتی چه ښځې هم په کور کښې نفل کول غواړی نو د اختر دمونځ نه پس دې اوکړی. د اختر دمونځ نه پس صرف په عیدګاه کښې نفل کول مکروه دی. په کور کښې ئې کولې شی.

**د اختر دمونځ نه مخکښې قضا مونځ کول جائز دی:**

قضاء مونځ داختر دمونځ نه مخکښې په کور کښې کولې شی، کچرې دچا ددغې ورځې دسحر مونځ قضاء شی نو داختر دمونځ نه مخکښې دهغې په قضاء کولو کښې څه باک نشته. اګرچه د صاحب ترتیب دپاره دا د اختر دمونځ نه مخکښې کول هم ضروری نه دی، دسحر د مونځ نه بغیر هم دهغه د اختر مونځ صحیح دې. دغه دسابقه مونځونو قضاء هم داختر دمونځ نه مخکښې کولې شی، خو بهتر دادی چه د اختر دمونځ نه پس ئې اولولی.

**د اختر دمونځ وخت:**

نمر راختلو سره چه کله نمر د نیزې په قدر اوچت شی نو داختر دمونځ وخت شروع کیږی او د زوال نه مخکښې مخکښې (کله چه نمر عین په سرباندې راشی)،او که د مونځ په دوران ذکرشوې وخت راغلو نو د اختر مونځ اونه شو بلکه دا رکعتونه نفل شو.

مستحب دادی چه د لوې اختر مونځ زر اوکړې شی دې دپاره چه خلق زر قربانی اوکړی او د وړوکی اختر مونځ څه قدرې تاخیر سره ادا کړی شی دې دپاره چه خلق د مونځ نه مخکښې صدقه فطر (سرسایه) ادا کړې شی.

**د اختر د خطبې مستحب وخت:**

د اختر د خطبې مستحب طریقه داده چه د اولې خطبې په ابتداء

کښې دې نهه ځله، ددويمي خطبې په ابتداء کښې اووه ځله او بالکل په آخرکښې څوارلس ځله مسلسل تکبيرات يعنى"الله اکبر" دې اووئيلې شى. په خطبات کښې تکبيرات تشريق نه وئيل يا يو دوه ځله وئيل خلاف اولى دى.

## د اختر مونځ که په اوله ورځ ادا نه کړې شى:

که د سخت باران وغيره دځه عذر د وجې د اخترمونځ په اوله ورځ ادا نه کړې شى يا د کولو نه پس د وخت تيريدو نه پس معلومه شوه چه مونځ نه دې شوې، مثلام د امام اودس نه وو.د وخت نه پس اوکړې شونو په دويمه ورځ دې د زوال نه مخکښې ادا کړې شى. که دځه عذر په وجه سره دريمي ورځې پورې مؤخر شو نو اوس مونځ کول جائز نه دى.که بغير دځه عذر نه دويمي ورځې پورې مؤخر کړې شو نو بياهم کول جائز نه دې،البته که د لوې اختر مونځ دځه عذر په وجه پاتې شو نو د دريمي ورځې د زوال پورې ادا کولې شى. بغير دځه عذر هم مؤخرکړې شو نو هم دريمي ورځې پورې کولې شى خو داسې کول مکروه دى.

## د اختر دمونځ طريقه:

صفونه په ښه طريقه سره د صحيح کولو نه پس په زړه کښې نيت اوکړه چه ددې امام په اقتداء کښې مونځ ادا کوم.په ژبې سره د نيت ځه مخصوص الفاظ ادا کول ضرورى نه دى، بلکه دې لره ضرورى ګنړل بدعت دې.

## د اختر مونځ دوه رکعته دې:

د اختر مونځ دوه رکعته دې او په هر رکعت کښې درې درې تکبيرات زياتى دى. په اول رکعت کښې دثناء نه پس قرأت نه مخکښې او په دويم رکعت کښې دقرأت نه پس د رکوع نه مخکښې .

په ټولو تکبیراتو کښې غوږونو پورې لاسونه اوچتول،په اول رکعت کښې په دوه زیاتي تکبیراتو کښې لاس پریخودل او د دریم تکبیر نه پس لاسونه تړل،په دویم رکعت کښې د درې زیاتی تکبیراتو سره لاسونه د غوږونو پورې اوړل او پریخودل،او په څلورم تکبیر وئیلو سره رکوع ته تلل.

## د اختر د مونځ ادا کولو متعلق مسائل واحکام

**د اختر دمونځ دپاره جمعَ کول شرط دی:**

د اختر دمونځ دپاره کم نه کم د دریو سړو جمعَ شرط ده لهذا که څوک سړې د اختر جمعِ ته اونه رسیدو نو ځانله دهغې قضاء نه شی کولې،البته که کورته واپس کیدو سره څلور رکعته نفل اوکړی نو بهتر دی.

**د اخترونو د مونځونو واجبات:**

د اخترونو مونځونه په باقی ټول حکمونو کښې د نورو مونځونو په شان دی صرف درې څیزونوکښې مختلف دی یعنی لاندینی درې څیزونه په دې کښې ضروری دی:

۱۔جمعَ ۲۔جهراً قرأت ۳۔ زیاتی تکبیرونه

**د څو سړو د اختر مونځ پاتې شو:**

که دڅو سړو د اختر مونځ پاتې شو نو بل مسجد یا عیدګاه کښې چرته چه د اخترمونځ نه وی شوې خپل ځانله جمعَ کولو سره د اختر مونځ کولې شی. داسې مسجد یا عیدګاه ملاؤ نه شی نو بل ځاې کښې ئې هم کولې شی.

**د چا چه تکبيرات پاتې شو:**

کوم سړي چه د امام د تکبيراتو د فارغيدو سره د قرأت شروع کيدو نه پس اورسيدو هغه دې نيت اوتړی اول دې زياتی تکبيرونه اووائی.که امام ئې په رکوع کښې اوموندلو نو که د رکوع تللو يره نه وی نوتکبيرتحريمه دې اووائی رکوع ته لاړ شی او د لاس اوچتولو نه بغير دې په رکوع کښې دې د لاس اوچتولو نه بغير درې واړه تکبيرات اووائی او د رکوع تسبيح "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم"دې هم اووائی. د دواړو جمع کول که ممکن نه وی نو صرف تکبيرات دې اووائی تسبيحات دې پريږدی.تکبيرات واجب او تسبيحات سنت دی، که د تکبيراتو پوره کولو نه مخکښې امام د رکوع نه سر اوچت کړو نو باقی تکبيرات دې پريږدی دامام اتباع دې اوکړی.

**امام ئې د دويم رکعت په رکوع کښې اوموندلو:**

که امام ئې په دويم رکعت کښې اوموندلو نو هم هغه تفصيل دې چه پاس ذکر کړې شوې دې. البته دامام دسلام ګرځولو نه پس چه کله فوت شوې رکعتونه کوی نو اول دې قرأت اوکی بيا دې تکبيرونه اووائی.

**د چا نه چه دواړه رکعتونه لاړل:**

کچرې دچا نه دواړه رکعتونه لاړل خو دسلام اړولو نه مخکښې مخکښې دامام سره شريک شو نو د امام د سلام اړولو نه پس به پاسی او حسب قاعده به دواړه رکعتونه اوکړی او تکبيرونه په خپل خپل مقام باندې يعنی په اول رکعت کښې دثناء نه پس دقرأت نه مخکښې او په دويم رکعت کښې دقرأت نه پس د رکوع نه مخکښې به اووائی.

**په دویم رکعت کښې تکبیراتو لره د قرأت نه مؤخر کول واجب نه دی:**

په دویم رکعت کښې تکبیرات زائده لره د قرأت نه مؤخر کول بهتر دی،واجب نه دی.لهذا امام په غلطئ سره دا تکبیرات د قرأت نه مخکښې اووائی نو بیاهم مونځ بغیر د کراهت نه اوشو.

**امام تکبیراتو لره هیر کړل او مخکښې لاړو:**

که امام زیاتی تکبیراتو لره هیر کړل اومخکښې لاړو نو په یاد راتلو باندې په رکوع کښې دې دا تکبیرات اووائی،رکوع پریخودلو سره دې قیام ته نه واپس کیږی.خو که امام رکوع پریخودلو قیام طرفته واپس شو تکبیرات ئې اووئیل او بیائې رکوع اوکړه نو بیابه هم مونځ اوشی.

**د اختر په مونځ کښې سجده سهوه:**

د عام مونځونو په شان په جُمعه او اخترونو کښې هم په ترک واجب باندې او تاخیر فرض باندې سجده سهوه واجبیګې،خو دجُمعې اوپه اخترونوبلکه په کوم مونځ کښې هم چه مجمع زیاته وی او سجده سهوه کولو سره په خلقو کښې د فساد او انتشار یا سوچ کښې دپریوتلو یره وی نو سجده دې اونه کړې شی.که دا یره نه وی نوسجده سهو کولې شی.

**کوم سړی چه بهر ملک کښې د اختر مونځ اوکړو او راغلو:**

که یو سړې په کوم بهر ملک کښې د اختر مونځ اوکړو او راغلو نو هغه پاکستان ته رارسیدو سره د اختر دمونځ امامت کولې شی خو بهتر داده چه داختر دمونځ امامت اونکړی بلکه په صورت دمقتدی داختر مونځ ادا کړی.

# د عیدالاضحی (لوړ اختر) قربانی

**لغوی او اصطلاحی تعریف:**

قربانۍ ته اضحیه وائی، په لغت کښې اُضحیه هغه څاروی ته وائی چه د کوم قربانی کیږی او په دې مناسبت سره د قربانۍ والا اختر ته عیدالاضحی وائی.

د شریعت په اصطلاح کښې دقربانۍ مطلب دیو مخصوص عمر والا دیو مخصوص څاروی نوم دې کوم لره چه په یو مخصوصه ورځ باندې د شرائطو په موجودګۍ کښې حلالوی.

**د قربانۍ فضیلت او اهمیت:**

عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا عَمِلَ ابْنُ اٰدَمَ مِنْ عَمَلٍ یَوْمَ النَّحْرِ اَحَبَّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ اِهْرَاقِ الدَّمِ وَاِنَّهٗ لَیَأْتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ بِقُرُوْنِهَا وَاَشْعَارِهَا وَاَظْلَافِهَا وَاِنَّ الدَّمَ لَیَقَعُ مِنَ اللّٰهِ بِمَکَانٍ قَبْلَ اَنْ یَقَعَ بِالْاَرْضِ فَطِیْبُوْا بِهَا نَفْسًا۔ [رواہ الترمذی وابن ماجہ]

"سیده عائشه رضي الله عنها نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د ذی الحجې په لسم تاریخ یعنی دعیدالاضحی په ورځ د آدم د ځوی کوم یو عمل الله تعالی ته د قربانۍ نه زیات محبوب نشته او دقربانۍ څاروې به دخپلو ښکرو او ویښتو نوکونو سره راځی او دقربانۍ وینه په زمکه باندې د پریوتلو نه مخکښې دالله تعالی د رضا او مقبولیت مقام ته رسی، بس اے د الله تعالی بندګانو د زړه په پوره خوشحالۍ سره قربانۍ کوئ.

عَنْ زَیْدِ بْنِ اَرْقَمٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مَا هٰذِهِ الْاَضَاحِیُّ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ سُنَّةُ اَبِیْکُمْ اِبْرَاهِیْمَ عَلَیْهِ السَّلَامَ قَالُوْا فَمَا لَنَا

فِيْهَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ ، قَالُوْا فَالصُّوْفُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ۔ [رواہ احمد وابن ماجہ]

"سيدنازيدبن ارقم رضى الله عنه نه روايت دې چه د رسول الله ﷺ صحابو عرض او کړو: يارسول الله ﷺ ددې قربانو څه حقيقت او تاريخ دې؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل دا ستاسو( روحانى او نسلى) مورث دسيدنا ابراهيم عليه السلام سنت دې (يعنى دټولو نه مخکښې هغه ته دالله تعالى دطرف نه ددې حکم ورکړې شوې دې، دهغه ددې سنت او قربانئ ددې عمل دپيروئ حکم ماته او زما امت هم راکړې شوې دې) صحابوؓ عرض او کړو: په دې کښې زمونږ دپاره څه دى. نبى عليه السلام اوفرمائيل دقربانئ د څاروى دهر هر ويښته په عوض کښې يوه نيکى. هغوى عرض اوکړو: آيا د وړې هم، يا هغه څاروې چه دکوم په څرمن باندې د غوائې يا چيلئ په شان ويښته نه وى بلکه وړئ وى،او يقيناً په دې کښې دهر هر څاروى په څرمن باندې لکهونو کروړونو ويښته وى، نو آيا د وړئ والا د څاروى په قربانئ باندې ثواب هم دهر هر ويښته په عوض کښې يوه نيکى ملاويږى.؟) نبى عليه السلام اوفرمائيل :هاؤ د وړې والا څاروى د قربانئ اجر هم دغه شان او په دې حساب سره به ملاويږى ددې به هم دهر ويښته په عوض کښې يوه نيکى وى".

عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْمَدِيْنَةِ عَشَرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ [رواہ الترمذی]

" سيدناعبدالله بن عمررضى الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ (دهجرت نه پس) په مدينه طيبه کښې لس کاله قيام اوفرمائيلو،او نبى عليه السلام برابر(هر کال) به قربانى کوله".

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ

فَلَا يَقْرِبَنَّ مُصَلَّانَا [احمد، ابن ماجۃ، ابو یعلیٰ، حاکم]

"رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي دي: چه کوم سړي د وس لرلو باوجو هم قرباني اونکړه هغه دي زمونږ عیدګاه ته نزدې هم نه راځی".

**قربانی او روشن خیالی:**

ددې دَور په فتنوکښې یولویه فتنه داده چه دمغرب نه مرغوب دذهنی غلامۍ ښکار یوه مخصوص طبقه ددین اسلام نه په یقینی طور باندې ثابت شوې احکامو او شعائرو لره د مسلمانانو په مادی طریقې کښې لوې رکاوټ ګنړلو سره د هغې په کټ کټائی او رد وبدل په چکر کښی دی او دچرته چه هم کار جوړیدل په نظر نه راځی نو دسر نه انکار کوی. دغه شان دامت مسلمه د درد او خیرخواهۍ په پردو کښې د الحاد لویه دروازه کهلاویږی اوجاهل عوام د اسلام په باره کښې د شکوکو او شبهاتو ښکار کیدو سره ګمراه کیږی او بعضې وخت د ایمان نه هم لاس اووینځی.

په داسې حالاتو کښې په عوامو باندې لازم دی چه هغوی په دینی مسائلو کښې ددې نوې تعلیم یافته مغرب زده طبقې، چه د سرنه ددین د مبادیاتو نه هم جاهل دی، په بې سره بې خپو خبرو باندې غوږ نه ګروی بلکه ددې په ځای دې مستندعلماؤ سره مضبوط تعلق قائم کړی او د اسلام داحکامو په باره کښې دهغوی نه رهنمائی حاصله کړی دا دهغوی منصب دې.

دداسې مسلمان مطمع نظر بهرکیف د الله تعالی د احکامو په ځای راوړل دی، خواه دهغې حکم علت دده په عقل کښې راشی یانه. بس دومره کافی ده چه هغه حکم اوعمل قابل قبول دلیل یعنی په دلیل شرعی سره ثابت وی.

قرباني يو مستقل واجب عبادت دې بلکه په شعائر د اسلام کښې ده،رسول اللهﷺ د مدينې منورې په لس کاله قيام کښې به هر کال قرباني کوله. حضرات صحابه کرامؓ ،تابعينؒ،وتبع تابعينؒ او آئمه مجتهدينوؒ او اسلاف رحمهم الله غرض دپوره امت متوارث او مسلسل عمل هم د قربانۍ کولو دې. ترننه پورې په دې کښې چاهم نه دې سره دحج او مکې معظمې پورې خاص ګنړلي دې او نه صدقه او خيرات لره ئې ددې قائم مقام ګنړلې دې. دقربانۍ په باره کښې څومره آياتونه او احاديث چه دی هغه ټول د ښاروی د وينې د بهيولو متعلق دی،نه چه دصدقې او خيرات متعلق. دارنګه په دې کښې دحج او مکې معظمې څه تخصيص نشته، دنمونې په طور باندې څو آياتونه او احادث اوګورئ.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيْمَةِ الْأَنْعَامِ [حج:۳۴]

**ترجمه**: مونږ (چه څومره د شريعت خاوندان تيرشوې دی په هغوی کښې) په هرامت کښې قرباني کول په دې غرض سره مقرر کړې وه چه هغوی په دې مخصوص ښاروؤ باندې دالله نوم واخلی چه هغه دوی ته ورکړې دی.

امام ابن کثير وامام رازی رحمهماالله وغيره مفسرينو ددې آيت په تفسير کښې تصريح فرمائيلې ده چه وينه تويولو سره د ښاروؤ د قربانۍ دستور د شروع ورځې نه په ټولو دينونو او مذهبونو کښې راروان دی.[تفسير ابن کثير:۳/ ۲۲۷، تفسير کبير:۳/ ۳۴]

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ [حج:۶۷]

**ترجمه**: مونږ دهر امت دپاره د حلالو طريقه مقرر کړې ده هغوی په دې طريقه باندې حلاله کوی.

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ [کوثر:۲]

**ترجمه** : پس تاسو دخپل پروردګار (دپاره) مونځ کوئ او (دهغه په نوم) قرباني کوئ.

**عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرِبَنَّ مُصَلَّانَا۔** [احمد، ابن ماجہ، ابویعلیٰ، حاکم]

"رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ارشاد فرمائيلي دي: چه کوم کس د وس لرلو باوجود هم قرباني نه کوی هغه دي زمونږ عيدګاه ته نزدې هم نه رائحی".

**عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ۔** [رواه الترمذي]

"حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د (هجرت نه پس) په مدينه طيبه کښې لس کاله قيام اوفرمائيلو، او هغوی به برابر (هر کال) قرباني کوله".

**ددې آيتونواو احاديثو نه لاندينی امور ثابت شو:**

☆ په صاحب نصاب باندې قرباني واجب ده او د طاقت باوجود په قرباني نه کونکو باندې رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم دسختې ناراضګئ اظهار اوفرمائيلو تردې چه دهغه عيدګاه ته نزدې راتلل ئې هم خوښ نه کړل.

☆ رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم د مدينې منورې په لس کاله کښې به هر کال قرباني کوله،حالانکه حج نبی عليه السلام صرف په آخری کال باندې کړې وو. معلومه شوه چه قرباني د حج سره خاص نه او نه دمکې معظمې سره خاص ده، ګنی نبی عليه السلام په مدينه منوره کښې نهه کاله قرباني ولې کوله؟

☆ دقربانئ مقصد صرف د غريبانو نادارو مدد نه دې چه په صدقه او خيرات سره پوره شی، بلکه په قربانئ کښې مقصود د څاروی وينه

تویول دی. دا عبادت به په هم دې خاص طریقه سره ادا کیږی،هله به ددې مطلوبه فائدې او ثمرات حاصلیږی. ګنی د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو ؓ په دور کښې غربت او افلاس د دور حاضر نه په څو چنده باندې زیات وو. که څاروئ حلالول مستقل عبادت نه وې نو هغه حضراتو به د څاروی حلالولو په ځاې نادارو خلقو له چنده جمع کوله یا دومره رقم به ئې د خیرښیګړې په کارونو کښې خرچ کوو. دقربانئ په ځاې دصدقه خیرات مشوره هم داسې ده لکه څوک نادان دا مشوره ورکړی چه دنن نه دمونځ، روژې په ځاې دومره صدقه دې اوکړې شی ښکاره خبره ده چه په دې سره به مونځ،روژه عبادت هر ګز ادا نه شی بس په دې طریقه صدقه وخیرات سره قربانی مستقل عبادت به هم ادا نه شی.

د ابتداء نه څنګه چه ذکر شوې دی چه په حقیقت کښې قربانی دحضرت ابراهیم علیه السلام دهغه عظیم الشان عمل یاد ګار دې‌چه په هغې کښې هغوی دحکم الهی په تعمیل کښې خپل لخت جګر لره د حلالو دپاره راځملولو او ماشوم ځوی حضرت اسماعیل علیه السلام هم بغیرد څه چغو سُورو نه د الله تعالی دحکم په مخکښې سر کیخودلو او د حلالیدو دپاره ئې خپل څټ پیش کړې وو، خو الله تعالی په خپل فضل سره دهغه په ځاې ګډ لرهفدیه جوړه کړې وه، نو نن په دې طریقه باندې حلالې کولو سره عمل کولې شی. صرف په صدقه او خیرات سره ددې عمل یاد نه شي تازه کیدلې.

دارنګه حافظ ابن کثیر او امام رازی رحمهم الله د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما،امام عطاء،امام مجاهد،امام عکرمه،امام حسن بصری، امام قتاده،امام محمدبن کعب قرظی،امام ضحاک رحمهم الله وغیره

قول نقل کړې دې چه مشرکین عربو به دغیر الله په نوم باندې څاروی حلالول، په دې وجه رسول الله ﷺ ته حکم ورکړې شو چه تاسو دخپل رب په نوم باندې څاروې حلالوې.[ تفسیر ابن کثیر:۴/ ۷۲۴]

په دې بناء باندې څاروې حلالولو سره دې حکم الهی لره پوره کولې شی،صدقه خیرات ددې بدل هیڅ نه شي کیدلې.

الله تعالی دې ددینِ حق حفاظت اوفرمائی او مسلمانانو ته دې دمستندعلماء کرامو نه دحق د رهنمائې حاصلولو توفیق ورکړی.(والله العاصم من جمیع الفتن وهوالموفق لما یحب ویرضیٰ)

## د قربانۍ نه څه سبق حاصل کړې شی؟

☆ قربانی دحضرت ابراهیم علیه السلام دهغه عظیم الشان عمل یادګار دې،ضروری ده چه ددې په زړه او دماغو سره استحضار اوکړې شی او ددې حقیقت لره سوچ کړې شی چه دا ټول هرڅه صرف د الله تعالی دحکم تعمیل او د هغه د رضاکولو دپاره دی. او دا جذبه کیدل پکار دی چه که چرې د ځوی د قربانی کولو حکم باقی پاتې وو نو مونږ به په خوشحالۍ سره ددې تعمیل کولو. دهر پلار جذبه دا وی چه ما به ضرور خپل لخت ځیګر قربانولو او دهر ځوی دا جذبه وی چه زه به دقربانی کیدو دپاره په زړه او ځان سره راضی ووم او دا عزم کیدل پکار دی چه که دا حکم نن نازل شی نومونږ به په دې کښې لږه هم کوتاهی اونکړو.

☆ دقربانۍ اصل کښې روح او ددې حقیقت دادې چه مسلمان دالله تعالی په محبت کښې خپل ټول نفسانی خواهشاتو لره قربانی کړی. دڅاروی حلالو سره د قربانۍ ورکولو په حکم

کښې همدا حکمت پټ دې چه دالله تعالی په محبت کښې ټول نفساني خواهشاتِ تولره یو یو کولو سره حلال کړه.که یو کس د څاروی قربانی خو په ډیر شوق سره کوی، خو نفسانی خواهشات او ګناهونو لره نه پریږدی،اونه ددې فکر ورسره شته، نو اګرچه واجب خو دده د ذمې نه ساقط شو، خو دقربانۍ د حقیقي روح نه محروم پاتې شو. په دې وجه د قربانۍ د ظاهری صورت سره سره ددې دحقیقت او مقصود حاصلولو عزم او کوشش او دعا هم جاری ساتل پکاردی.

☆ حضرت ابراهیم علیه السلام صرف دیو څاروی قربانی نه ده کړې،بلکه دپوره ژوندیو یو ساعت ئې دالله تعالی په اطاعت او فرمانبردارۍ کې تیرکړې وو چه کوم حکم هم دالله تعالی دطرف نه نازل شو فورا ئې دهغې تعمیل اوکړو.ځان او مال،مورپلار،کوروطن،لخت جګر غرض ټول هرڅه ئې دالله په لاره کښې قربانی کړل. مونږ له هم په خپل ځان کښې دغه جذبه پیدا کول پکاردی چه ددین کومه تقاضا او حکم مخې ته راشي په عمل باندې اوکړو.خپلو عزیزانو رشته دارانو، ښځه بچی، مورپلار،خاندان، قوم څه څیزته هم دالله تعالی دحکم په مقابله کښې ترجیح ورنکړو۔

سارا جہاں ناراض ہو پروانہ چاہیے     مد نظر تو مرضی جاناں چاہیے
بس اس نظر سے دیکھ کر تو کر یہ فیصلہ     کیا کیا کرنا چاہیے کیا کیا نہ چاہیے

**ترجمه**: که ټول جهان ناراضه شی پرواه نه ده پکار مدِ نظر خو دجانان مرضی پکارده. بس په دې نظر سره اوګوره نو دا فیصله اوکړه چه څه څه کول پکار دی څه څه نه دی کول پکار.

☆ اګرچه الله تعالی خپل فضل اوکړو ګډ ئې دحضرت اسماعیل علیه السلام فدیه جوړه کړه او په دې بناء باندې اوس د ځوی دقربانۍ حکم نشته،خو په جهاد فی سبیل الله کښې دخپل ځان او اولاد قربان کولو حکم خو دهمیشه دپاره دې.جهاد خو به د قیامت پورې جاری وی، الله تعالی په قرآن کریم کښې بار بار د جهادحکم فرمائیلې دې او نن داحکم په پوره تاکید سره امت مسلمه طرفته متوجې او مخاطب دې. څوک شته چه دالله تعالی په دې حکم باندې لبیک اووائی او دټولې دنیا دمظلوم میاندو او خویاندو سلګې محسوس کړی او د اعلاء کلمة الله په خاطر دالله تعالی په لاره کښې د ځان دبازۍ لګولو تړپ په زړه کښې پیدا کړۍ؟؟؟

**د قربانۍ د وجوب شرائط**:

قربانی په شپږ شرطونو سره واجب کیږی.کوم چه لاندې دی:

١: مسلمان کیدل،په غیرمسلم باندې قربانی نشته.

٢: مقیم کیدل،په مسافرباندې قربانی واجب نه ده.

٣: آزاد کیدل، په غلام باندې قربانی نشته.

٤: بالغ کیدل،په نابالغه باندې قربانی واجب نه ده.

٥: عاقل کیدل،په لیونی باندې قربانی واجب نه ده.

٦: صاحب نصاب کیدل، په مسکین باندې قربانی نشته.

**د ذکرشوې شرائط په پوره وخت کښې موندل ضروری نه دی**:

د ذکرشوې شرائطو د قربانۍ په پوره وخت کښې موندل ضروری نه دی، بلکه د وجوب د وخت په آخری جزء کښې هم که دا شرطونه اوموندلې شی نو په هغه باندې قربانی واجب ده. یعنی د د ولسمې ذی الحجې په ماښام د نمر پریوتلو نه لږ مخکښې که څوک کافر مسلمان

شو،یامسافر وطن ته اورسیدو،یا غلام آزاد شو،یا ماشوم بالغ شو، یا فقیرصاحب نصاب جوړ شو نو په هغه باندې قرباني واجب شوه،په دې شرط چه نور شرطونه هم په هغه کښې اوموندلې شي. په دې کښې د سړي او ښځې حکم یوشان دې.

**په آخروخت کښې کوم یوشرط فوت شو:**

که د قربانۍ په ابتدائي ورځو کښې په چا قرباني واجب وه، خو په آخر کښې څه شرط فوت شو نو قرباني واجب پاتې نه شوه مثلاً: مالدار تنګدسته شو، یامقیم مسافرشو، نوپه هغه باندې قرباني واجب پاتې نه شوه.

**د قربانۍ ورځې:**

قرباني داختر په ورځ یعنی دلسمې ذی الحجې د سحر کیدو نه واخله د دولسمې ذي الحجې د نمر پریوتلو یعنی دماښام د آذان پورې کیدې شي. په دې درې ورځو کښې قرباني جائز ده خو په اوله ورځ کول افضل دي.

**د قربانۍ طریقه:**

عَنْ اَنَسٍ قَالَ ضَحّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِكَبْشَيْنِ اَمْلَحَيْنِ اَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهٖ وَسَمّٰى وَكَبَّرَ قَالَ رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهٗ عَلٰى صِفَاحِهِمَاوَيَقُوْلُ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ۔ [رواه البخاري ومسلم]

سیدنا انس نه روایت دې چه رسول الله ﷺ تور اوسپین رنګ ته مائل ښکرو والا دوؤ ګډانو قرباني اوکړه،او په خپل لاس مبارک سره ئې حلال کړل او دحلالې په وخت ئې ''بسم الله والله اکبر'' اولوستل. ما اولیدل چه نبي علیه السلام خپله خپه دهغه په ډډه باندې ایخې وه او په ژبه سره ئې ''بسم الله والله اکبر'' وئیل.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ اَقْرَنَيْنِ اَمْلَحَيْنِ

مُوْجُوْئَيْنِ فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ: اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ عَلٰى مِلَّةِ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اِنَّ صَلٰوتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ عَنْ مُحَمَّدٍ وَاُمَّتِهٖ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ثُمَّ ذَبَحَ.

[رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة والدارمي]

وَفِيْ روايته لِأحمد و ابي داؤد والترمذي ذَبَحَ بِيَدِهٖ وَقَالَ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَنِّيْ وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ اُمَّتِيْ۔

سيدنا جابر نه روايت دې چه د قربانۍ په ورځ يعنی د لوې اختر په ورځ نبي عليه السلام تور او سپين رنګ ته مائل ښکرو والا دوه خصي ګډان قرباني کړل. کله چه نبی عليه السلام دهغوی مخ قبلې طرفته کړو نو دا دعا ئې اولوستله:

"اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَ جْهِيَ لِلَّذِيْ۔۔۔ اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ عَنْ مُحَمَّدٍ وَاُمَّتِهٖ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ"

"زه خپل مخ هغه الله طرفته کوم چاچه زمکه او آسمان پيدا کړې دی د ابراهيم عليه السلام په طريقه باندې د هر طرفته نه ځانله کيدو سره . زه د شرک کونکو نه نه يم، زما مونځ وعبادت او زما قرباني او زما ژوند او مرګ ټول دالله رب العالمين دپاره دي. دهغه څوک شريک نشته او ماته ئې په دې باندې حکم کړې دې او زه دحکم منونکو نه يم".

اې الله! دا قرباني هم ستاد طرف نه او هم ستاپه توفيق سره ده او ستا دپاره ده، ستا د بنده محمد ﷺ،اودهغه دامت دطرف نه بسم الله والله اکبر،دې دعا وئيلو سره نبی عليه السلام د دوؤ ګډانو په مرئ باندې چاړه راښکله او هغه ئې حلال کړل".[مسند احمد ، سنن ابی داؤد، سنن ابن ماجه ، سنن دارمی] او مسنداحمد او سنن ابی داؤد او جامع

ترمذی ددې حدیث د دویم روایت آخری حصه داسې ده چه نبی علیه السلام د"اَللّٰهُمَّ مِنْکَ وَلَکَ" وئیلو نه پس په خپل لاس سره حلال کړل او په ژبه سره ئې اووئیل:"بسم الله والله اکبر"(اې الله! دا زما دطرف نه او زما دامتیانو د طرف نه چاچه قربانی نه وی کړې).

**تشریح:**

د قربانۍ په وخت د رسول اللهﷺ د الله تعالی په حضورکښې دا عرض کول چه : "زما دطرف نه او زما دامت دطرف نه،یازما دهغه امتیانو دطرف نه چاچه قربانی نه وی کړې.ښکاره خبره ده چه دا د نبی علیه السلام د امت سره انتهائی شفقت او مهربانی ده. خو دا خبره دې ملحوظ خاطر وی چه ددې دا مطلب هیڅ کله نه دې چه نبی علیه السلام دټول امت دطرف نه یا د قربانی نه کونکو امتیانو دطرف نه قربانی کړې ده اودټولو دطرف نه ادا شوه ددې مطلب خو صرف دادې چه اې الله! ددې په ثواب کښې ما سره زما امتیان هم شریک کړه! په ثواب کښې شرکت بل څیز دې اوقربانی اداکیدل بل څیز دې.

## د قربانۍ په وخت دعا

**د حلالولو نه مخکښې چه کومه دعا نقل ده هغه دا ده:**

**اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُکِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ لَاشَرِیْکَ لَهٗ وَبِذٰلِکَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ اَللّٰهُمَّ مِنْکَ وَلَکَ۔۔۔ الخ** [مسند دارمی]

"ما متوجې کړو خپل مخ دهغه طرفته چاچه آسمان او زمکه جوړکړی دی دټول نه ځانله کیدو سره او زه نه دشرک کونکو یم بیشک زما مونځ،زماقربانی،زماژونداو زما مرګ دالله تعالی دپاره دی چه پالونکې دې دټول جهان. نه شته دې دهغه څوک شریک اوهمدا

ماته حکم شوې دې اوزه دټولو نه مخکښې فرمان برداره یم اې الله ستادطرفنه او ستادپاره".

ددې دعانه پس **بسم الله الله اکبر** وئیلوسره حلال دې کړی او د حلالولو نه پس دې دااووائی:

**اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ کَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِیْبِکَ مُحَمَّدٍوَخَلِیْلِکَ اِبْرَاهِیْمَ عَلَیْهِمَا السَّلَامُ۔**

"اې الله! زما نه قبوله کړې ځنګه چه تادخپل حبیب سیدنا محمد ﷺ او خلیل سیدناابراهیم علیه السلام نه قبوله کړې ده".

ددې دعا ماخذ هغه حدیث دې کوم لره چه امام ابوداؤد روایت کړې دې چه دهغې الفاظ دا دی:

**اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَاٰلِ مُحَمَّدٍ۔** [بذل المجهود:۴/ ۷۰]

"اې الله! د محمد ﷺ او د آل محمد ﷺ د طرف نه قبوله کړه".

# د قربانۍ مسائل او احکام

## د قربانۍ کولو په حوالې سره مسائل

**په ښاراوکلی کښې فرق:**

د ښار والو دپاره دقربانۍ وخت په لسمه ذی الحجه د اختر دمونځ نه پس شروع کیږی او دکلی والو دپاره د صبح صادق نه شروع کیږی. په اختتام کښې څه فرق نشته، د دواړو دپاره د دولسمې ذی الحجې د نمر پریوتو پورې دې. نو کلی والا د صبح صادق نه پس د نمرختلو نه مخکښې هم قربانی کولې شی او ښار والا د اختر دمونځ نه پس قربانی کولې شی. په ښارکښې چه په کوم ځاې کښې هم د اختر مونځ نه وی شوې او چا ښار والا قربانی اوکړه نو قربانی اونه شوه.

**مستحب وخت:**

د کلي والو دپاره مستحب وخت دادې چه دنمر ختلو نه پس قرباني اوکړی او دښار والو دپاره مستحب وخت دادې چه د اختر د خطبې نه پس قرباني اوکړی.اوله ورځ د قربانۍ دپاره دټولو نه افضل ده، بیا د دویمې ورځې درجه ده بیا د دریمې ورځ.

**په اوله ورځ ئې مونځ اونکړو:**

که په ښارکښې په څه وجه سره د اختر مونځ اونه کړې شوه نو قرباني دې دومره مؤخر کړې شي چه دمونځ وخت تیرشی یعنی د نمر د زوال پورې دې انتظار اوکړې شی.که داختر مونځ د څه عذر په وجه سره په یوولسم یا دولسم ذی الحجه باندې اوکړې شی نو قرباني د اختر دمونځ نه مخکښې هم کولې شی.

**په یو ځاې کښې داختر مونځ د قربانۍ دپاره کافی دې:**

که په ښارکښې په ګنړ ځایونو کښې مونځ کیږی نو دقربانۍ دصحت دپاره یوځاې مونځ کیدل کافی دی. د هرقرباني کونکی د اختر مونځ کولو سره قرباني کول ضروری نه دی. په ښارکښې د ټولو نه مخکښې د اخترمونځ نه پس چا پخپله د اختر مونځ نه مخکښې قرباني اوکړه نو جائز دی.

## په وخت کښې فرق په کوم لحاظ سره ؟

د ښاراو کلي په مینځ کښې چه دقربانۍ دوخت کوم فرق جوړشو، دا فرق دقربانۍ په لحاظ سره دې نه چه دقرباني کونکو په اعتبارسره. لهذا که چا دښار اوسیدونکی خپل څاروې کلي ته اولیږلو نو د اختر دمونځ نه مخکښې دې لره حلالولې شی او که کلي والا خپل څاروې

ښارته اوليږلو نو هغه د اختر دمونځ نه مخکښې حلالول جائز نه دی.

**په شپه کښې قربانی کول:**

په لسمه او ديارلسمه شپه قرباني کول جائز نه دی.د يوولسمې او دولسمې په شپه جائز ده، خو دشپې د رګونو نه کټ کيدو،يا د لاس کټ کولو،يا د قربانۍ دڅاروی په آرام کښې دخلل د يرې نه حلاله کول مکروه تنزيهی ده.

**فقير د قربانۍ نه پس مالدارشو:**

که چا فقيرقرباني اوکړه،بيا په آخر وخت کښې مالدار شو، يعنی د نصاب د مقدار په قدر مال ورته حاصل شو نو د راجح قول مطابق په ده باندې د نوې سر نه قرباني کول واجب دی.

**که حاجی مسافروی نو قربانی واجب نه ده:**

که څوک د اتمې ذی الحجې نه پنځلس ورځې مخکښې مکې مکرمې ته اورسيدو نو هغه مقيم دې. کچرې هغه صاحب نصاب وی نو په هغه باندې قربانی واجب ده چه هغې لره هغه هلته هم ادا کولې شی او وطن کښې هم چالره وکيل جوړولو سره ادا کولې شی اوکه د اتمې ذی الحجې نه څوارلس ورځې مخکښې يا ددې نه کم مخکښې مکې مکرمې ته اورسيدو نو هغه مسافر دې،په هغه باندې قربانی واجب نه ده.

واضحه دې وی چه دتمتع او قران په حج باندې بطور شکر ځانله قربانی واجب کيږی، چه دهغې هلته کول ضروری دی.

**قربانی په چاباندې واجب ده:**

بعضې ديندراه خلق په دې غلط فهمۍ کښې مبتلادی چه د زکوة فرضيت او دقربانۍ د وجوب يو نصاب دې،او په مونږ چونکه زکوة

فرض نه دي، لهذا قرباني هم واجب به نه وي، حالانکه د دواړو نصاب ځانله ځانله دي. زکوة په څلور قسمه مالونو باندې فرض دي :

(١)سره زر (٢)سپين زر (٣)نقدي (٤)د تجارت مال

ددې څلور قسم مالونو نه علاوه په څاروؤ کښې هم زکوة فرض دې،چه دهغې نصاب او تفصيل ځانله دې.دقرباني په نصاب کښې ددې ځيزونو نه علاوه د ضرورت نه زيات سامان قيمت لګول هم ضروري دی.

يادساتئ ټی وی،وی سی آر په شان خرافات، د جامو د دريو جوړو نه زيات لباس او هغه ټول ځيزونه چه صرف د زيب وزينت دپاره په کورونوکښې ايخودلې شوې وی او ټول کال کښې يو ځل هم نه استعماليږی،د ضرورت نه زياتی دی په دې وجه دهغه ټولو قيمت به هم په حساب کښې لګولې شی.

خلاصه داده چه دکوم سړی په ملکيت کښې اووه نيم تولې= ۴۷۹ء ۸۷ګرام سره زر،يا دوه پنځوس نيم تولې= ۶۱۲ء۳۵ګرام سپين زر يا نقدې يا د تجارت مال يا دضرورت نه زياتی سامان کښې يو يا ددې پنځو مجموعه ياپه دې کښې د بعضو مجموعه د دوه پنځوس نيم تولو د قيمت برابر وی نو قرباني او صدقة الفطر واجب ده او دداسې سړی دپاره زکوة يا صدقه واجبه اخستل هم جائز نه دی.

دوه پنځوس نيم تولې يعنی د۳۵ء ۶۱۲ګرام سپين زرو قيمت د صرافانو نه ددې وخت په حساب سره معلوم کولې شی، ځکه چه سره زرو او سپين زرو قيمت بدليږی رابدليږي،په دې وجه د څه يوې ورځ قيمت ليکل دغلط فهمئ ذريعه به وی.

**چاته ورکړې قرض به هم په نقدو کښې شماروی:**

يوه غلط فهمی دا موندلې شی چه کوم رقم چاته قرض ورکړې وی هغې لره د نصاب د حساب لګولو په وخت نه شاملوی، حالانکه چه

دکوم قرض د واپس کیدو توقع وی هغې لره به په نقدو کښې شمارکولې شی،خواه هغه دنقدو په صورت تاچاته ورکړې وییا څه څیز دې خرڅ کړې وی اوقیمت دې وصول کړې نه وی.

**د اخستلې شوې قرض ویستلو سره د نصاب حساب دې اولګولې شی:**

بعضې خلق مقروض وی،په دې وجه صاحب نصاب نه کیږی،مګر بیاهم واجب ګنړلو سره قربانی کوی. حالانکه مسئله داده چه که تاسو مقروض ئې نو په زکوة کښې به څلور او په قربانی کښې د پنځه قسمه مالونو قیمت اولګوې، بیابه ددې نه قرض کټ کړې، د قرض ویستلو نه پس که باقی مال د نصاب په قدر وی نو په تاسو زکوة او قربانی واجب دی، ګنه نه دی. د قرض خواه یا د اهل حقوقو حقونه پامال کولو سره قربانی کول جائز نه دی. که دقربانۍ واجب نه کیدو باوجود هم دچا حق وهلو نه بغیر قربانی اوکړې، مقصود دالله رضا وی، چه فخر او خودل نه وی نو څه باک نشته.

## د مختلف ناقص نصابونو په صورت کښې د زکوة او قربانۍ د وجوب مسئله

**تهمید:** هغه څیزونه په کوم چه زکوة فرض کیږی هغه شپږ قسم باندې دی :

(۱) چاندی سره زر او دهغې جوړ شوې ټول څیزونه مثلاً کالی، لوښی او سکې وغیره.

(۲) هرقسم دتجارت مال .

(۳) نقدې روپۍ خواه په هرشکل کښې وی د نوټ په شکل کښې وی یا سیونګ سرټیفیکیټ،بانډ یا سرکاری سند په شکل کښې .

(٤) د زمکې پیداوار،غله یا میوه یا سبزی.

(٥) څاروی چه دتجارت یا نسل زیاتولو یا د پۍ حاصلولو په غرض سره ساتلې شوې وی.

(٦) رکاز او معدن یعنی د زمکې نه ملاویدونکی.

الغرض د سبزیانو او څاروؤ نصاب خو داحنافو په نزد متفق علیه دي، د سرو سپینو زرو او د عروض(سامان) نصاب هم جدا جدا متفق علیه دي، چه کله چاسره دا درې واړه څیزونه (سره سپین زراو سامان یا نقدرقم) د مقرره نصاب نه ناقص (کم) نصاب کښې موجود وي نوبیاددې څیزونو حساب اولګولې شی. کچرې هغه مجموعه کوم یو نصاب ته اورسی ددې نصاب برابر شی نوبیاخو زکوة او قربانی به واجب وی.او ددې مختلف ناقص دوه یا زیاتو نصابونو(څیزونو) ملاوهلو سره او خپل مینځ کښې دبرابرولو طریقه به څه وی؟ نوپه دې کښې داحناف علماؤ د آئمه ثلاثو په خپل مینځ کښې اختلاف دې. دامام صاحبؒ مذهبد ضم بالقیمة دې کوم چه نسبتًا آسانه طریقه ده. مثلاً دچا سره دوه تولې سره زر، پنځه تولې سپین زر او څه نقدې دی نو ددې تولو قیمتونه یوځاې کولو سره که د سپین زرو نصاب دوه پنځوس نیمو تولو قیمت ته اورسی نو زکوة او قربانی به واجب وی ګنی نه. ځکه چه دا طریقه د حساب په اعتبارسره هم آسانه ده اوانفع للفقراء هم ده لهذا داحنافو په نزد عام فتوی په دې باندې ده او د صاحبینو د مذهب مطابق ناقص نصابونه به د ضم بالاجزء په طریقه باندې یوځاې کولې شی. مثلاً دچاسره نیم توله سره زر موجود وی نو دده سره د قربانئ د واجب کیدو دپاره یو کم پنځوس تولې سپین زر یاددې دقیمت برابر موجو کیدل پکار دی، ځکه چه یو کم پنځوس توله سپین زر کمې پوره کولو او د دوه پنځوس نیم تولې نصاب ته رسولو دپاره نیم توله سره زر پکار دی. نور تفصیل مخکښې د جدول په شکل کښې موجود دې. او د احنافو د عام فتاؤو مطابق امام ابوحنیفهؒ د قولضم بالقیمةباندې فتوی ورکول یو طرفته خو انفع للفقراء دې،خو بل طرفته اضر بالناس هم دې لهذا په دې زمانه کښې

په دې فتوی ورکولو سره مشکلات پیدا کیږی خصوصاً هغه غریب سړې یا ښځه چه دهغوی سره یو یا دوه تولې سره زر او څه نقدې روپۍ یا څه سپین زر موجود دی نو په صورت کښې زکوة او قربانی ورباندې فرض کیږی،ددې دپاره هغه خو به یاقرض اخلي یابه د فریضه ادا کولو دپاره خپل سره زر خرڅوی ګنی دقرض نه اخستلو او دسره زر او سپین زر نه خرڅولو په صورت کښې به هغه ګناهګار وی. باقی د امام ابوحنیفهؒ په **ضم بالقیمة** باندې د فتوې ورکولو یودا وجه هم معلومیږی چه په اوله زمانه کښې سره زر او سپین زر دواړه په مساوی طور باندې ذریعه دتبادلې وه چنانچه ترڅو پورې چه د سپین زرو دا حیثیت برقرار پاتې وو نو، د سرو سپینو زرو په قیمت کښې یو قسم توازن وو او اوس دا صورت حال پاتې نه شو. اوس د اووه نیم تولو سرو زرو او د دوه پنځوس نیم تولو سپین زرو په قیمت کښې غیر معمولی فرق راغلې دې او دسرو زرو په یو نصاب کښې د سپینو زرو څو نصابونه اخستل ممکن شوی دې. که د سره زرو سپین زرو قیمت کښې اوس هم هغه برابری او توازن وی نو بیا د امام صاحبؒ مذهب عین انصاف دې کوم چه**انفع للفقراء** دې خو په موجوده دور کښې په دواړو (سره سپین زر) کښې غیرمعمولی تفاوت په وجه سره د صاحبینو په قول باندې عمل کولو کښې لوې حده پورې آسانی پیدا کیدې شی.او دا پاسنې ذکر شوې مذهب اګرچه د صاحبینوؒ دې د خو امام صاحبؒ هم یو قول ددې مذهب مطابق نقل دې.

- څه رنګ چه امام سرخسیؒ فرمائی :**ثم اختلفوا فی کیفیة الضم فقال ابو حنیفة یضم احدهما الی الآخر باعتبار القیمة وقال ابو یوسف و محمد باعتبار الاجزاء وهو احدی الروایتین عن ابی حنیفة**۔[مبسوط سرخسی، باب زکوة المال،۲ /۲۵۹ ]

- ددې نه علاوه صاحب هدايه علامه مرغيناني فرمائی : **ثم يضم بالقيمة عند ابي حنيفة وعندهما بالاجزاء وهو رواية عنه۔**

[الهداية، فصل فی العروض، ۲/ ۴۲ مکتبة البشری]

دنن صبا بعضې معاصرين علماء کومو ته چه ددې مشکلاتو ادارک شوې دې او په باريک بنينئ سره ئې دا مسئله اوتلله نو هغوی هم دصاحبينو په مذهب باندې فتوی ورکولو ضرورت محسوس کړو او دې لره ئې اختيار کړه.

- څنګه چه مفتی عبدالقادر نعمانی صاحب د دارالعلوم حقانيه اوکوړه خټک مفتی د هدايې په شرح کښې فرمائی: **افتی الفقهاء علی قول ابی حنيفة لأن قوله احوط۔۔۔۔وان قولهما ارفق بالناس فينبغی ان يفتی بقولهما فی هذا الزمان وخصوصا فی مسئلة الاضحية ترفقا بالنساء لأن اكثر النساء يوجد معهن شيئ من الذهب وهو يساوی نصاب الفضة باعتبار القيمة وهن لا يستعدن لبيع الذهب ولشراء الاضحية واذا كان الانضمام بالاجزاء فحينئذ يكون الحکم أسهل عليهن۔** [القول الراجح، ۱/ ۱۷۴]
- دغه شان حضرت مولانا مفتی غلام الرحمن صاحب مهتمم جامعه عثمانيه پشاور ليکی: په دې حوالې که علماء کرام دامام ابوحنيفهؒ د قول په ځاې د صاحبينوؒ په رائې باندې نظر اوکړو نو شايد چه په دې مشکلاتو کښې څه کمی محسوس شی........ مبسوط سرخسی او هدايه وغيره کښې دامام ابوحنيفهؒ نه هم ددې قسمه يو قول روايت دې...... په دې وجه په خپل مذهب کښې دڅا مجتهد په قول باندې عمل کولو کښې زيات سهولت دې. [فتاوی عثمانيه، ۳/ ۳۱۱]
- مولانا مفتی خالدسيف الله رحمانی صاحب فرمائی : خو په موجوده دور کښې هرکله چه د دې دواړو په قدر کښې ښکار فرق پيدا شوې

دې ضرورت محسوسيږی چه ...... د صاحبينو رائې اختيار کړې شی چه سرو سپينو زرو د نصاب دانضمام اجزاء په لحاظ سره وی نه چه دقيمت په اعتبار سره. [جدید فقہی مسائل،۲/ ۱۰۳]

چونکه د صاحبينو مذهب دضم بالاجزاء دې چه دحساب په اعتبار سره ئې په پوهه کښې راتلل څه قدرې مشکل دی لهذاد آسانئ په خاطر دې سره تفصيلاً بيان کولې شی.

د ټولو نه اول په دې خبره پوهيدل دی چه د مسئلې په صورت کښې زمونږ سره دوه نصابونه دی،(۱)سره زر (۲) سپين زر، او د عروض (سامان وغيره) يا نقد رقم دپاره به مونږ د سرو،سپينو زرونه يو نصاب مقررکړو بیاچونکه په سره سپين زرو کښې د سپين زرو قيمت انتهائی کم دې لهذا دې سره نصاب دې مقرر کړې شی ځکه چه دا انفع للفقراءدې.

د سرو زرو هغه مقدار په کوم چه زکوة واجب کيږی شل دينار (مثقال) دې چه دهغې مقدار د موجوده وزن مطابق اووه نيم تولې سره زر جوړيږی او دسپين زرو نصاب دوه سوه درهم دې چه دهغې مقدار دنن صبا په حساب سره دوه پنځوس نمي تولې جوړيږی.

د پاسنی ذکر شوی تمهيداتو نه داخبره واضح کيږی چه که دچا سره څو ناقص نصابونه وی مثلاً سره زر،سپين زر،سامان يا نقدې نو هغه ټول به دچاندئ نصاب يا دهغې رقم ته واپس کيږی. ددې طريقه لاندې راځی.

نن په تاريخ ۱۰ اگست 2017ءفی توله سپين زرو قيمت: 800 روپې
په دې حساب سره د دوه پنځوس نيمو تولوقيمت: 42000 روپې
بس معلومه شوه چه زمونږ سره دقربانئ يا زکوة نصاب په حساب
دسپين زرو : 42000 روپې دی.

اوس که دچاسره سره زر او څه نقدې یا سامان یا سپین زر دی نو دا به څنګه یوځاې کوی؟ددې طریقه د صاحبینو د قول (ضم بالاجزاء) مطابق داده چه مونږ به د سرو نه سپین زر جوړوؤ ځکه چه د شریعت په رُو سره شل (دیناره) د (اووه نیم تولو) سرو زرو او دوه سوه درهمه د ( دوه پنځوس نیم تولو) سپین زرو برابر دی. لهذا کله چه اووه نیم تولې سره زر د دوه پنځوس نیم تولو سپینو زرو برابر شو نو یوه توله سره زر د اوه تولو سپینو زرو برابر شو. یعنی که دچاسره یوتوله سره زر دی او مونږ دې لره په سپین زرو کښې بدل(Convert) کړو نو اووه توله سپین زر به جوړشی. اوس دنصاب پوره کولو دپاره زمونږ سره باقی سپین زر،سامان یا نقدې دومره کیدل پکار دی. چه د پنځه څلویښت نیم تولو سپین زرو رقم پورې اورسی دې دپاره چه د دوه پنځوس نیم تولو نصاب پوره شی. نن په تاریخ ۱۰،۹ اګست2017ء د پنځه څلویښت نیمو تولو سپین زرو قیمت 36400 روپې دی لهذا د یوې تولې سره زرو کیدو په صورت کښې ددې سړی سره مزید36400 روپې کیدل ضروري دي. ددې دپاره لاندینې نقشه د نظر لاندې ساتل پکار دی. دې پاره چه معلومه شی چه دڅومره توله سره زرو سره څومره رقم پکار دې دې دپاره چه نصاب پوره شی او زکوة او قربانی واجب وی.والله اعلم بالصواب وعلیه الاعتماد۔

# جدول

| د چاسره موجوده سره زر | مطلوبه سپین زر د نصاب دتکمیل دپاره | مطلوبه رقم (دمطلوبه سپین زرو قیمت) |
| --- | --- | --- |
| 0.5(آدھا)تولہ سونا=(3.5تولہ چاندی) | 49تولہ چاندی | 39200 = 800 x 49روپے |
| 1تولہ سونا=(7تولہ چاندی) | 45.5تولہ چاندی | 36400 = 800 x 45.5روپے |
| 1.5تولہ سونا=(10.5تولہ چاندی) | 42تولہ چاندی | 33600 = 800 x 42روپے |
| 2تولہ سونا=(14تولہ چاندی) | 38.5تولہ چاندی | 30800 = 800 x 38.5روپے |
| 2.5تولہ سونا=(17.5تولہ چاندی) | 35تولہ چاندی | 28000 = 800 x 35روپے |
| 3تولہ سونا=(21تولہ چاندی) | 31.5تولہ چاندی | 25200 = 800 x 31.5روپے |
| 3.5تولہ سونا=(24.5تولہ چاندی) | 28تولہ چاندی | 22400 = 800 x 28روپے |
| 4تولہ سونا=(28تولہ چاندی) | 24.5تولہ چاندی | 19600 = 800 x 24.5روپے |
| 4.5تولہ سونا=(31.5تولہ چاندی) | 21تولہ چاندی | 16800 = 800 x 21روپے |
| 5تولہ سونا=(35تولہ چاندی) | 17.5تولہ چاندی | 14000 = 800 x 17.5روپے |
| 5.5تولہ سونا=(38.5تولہ چاندی) | 14تولہ چاندی | 11200 = 800 x 14روپے |
| 6تولہ سونا=(42تولہ چاندی) | 10.5تولہ چاندی | 8400 = 800 x 10.5روپے |
| 6.5تولہ سونا=(45.5تولہ چاندی) | 7تولہ چاندی | 5600 = 800 x 7روپے |
| 7تولہ سونا=(49تولہ چاندی) | 3.5تولہ چاندی | 2800 = 800 x 3.5روپے |

**د کور د مشر قربانی د نورو دپاره کافی نه ده:**

عموماً دا په ليدو کښې راځی چه د کور مشر قربانی اوکړی نو هغې لره دټول کور دطرف نه کافی ګنړلې شی. حالانکه د مشر نه علاوه که د کور بل يو فرد يا افراد د نصاب مالکان وی نو په هغوی باندې ځانله قربانی واجب ده.په دې صورت کښې د کور دمشر د طرف نه قربانی کول کافی ګنړل داسې دی لکه د کور دمشر مونځ چه د ټول کور دطرف نه کافی اوګنړلې شی.

ها که اولاد خپله ټوله ګټه پلار له ورکوی او د اولاد په ملکيت کښې نورڅه مال يا دضرورت نه زياتی سامان په قدر دنصاب هم نه وی نو زکوة او قربانی صرف په پلار باندې فرض ده په اولاد باندې نشته.

**د قربانۍ دپاره په مال باندې کال تيريدل ضروری نه دی:**

د قربانۍ د وجوب دپاره په مال باندې کال تيريدل ضروری نه دی، بلکه دقربانۍ په ورځوکښې په قدر دنصاب مالک کېدل ضروری دی.تردې پورې چه د دولسمې ذی الحجې په ماښام کښې د نمر پريوتلو نه لږ مخکښې چرته چه دنصاب په قدر مال راغلو، مثلاً هديه کښې مال راغلو نو قربانی واجب شوه. که د نمر پريوتلونه مخکښې د وخت کم کيدو په وجه سره قربانی کول ممکن نه وی يائې څه غفلت اوکړو او نمر پريوتلو نو يو ګډ يا چيلۍ يا د هغې دقيمت برابر صدقه کول واجب دي.

# د قربانۍ په حوالې سره د څو غلطيانو اصلاح

**په شرکاؤ کښې د هريو صحيح العقيده مسلمان کيدل ضروری دی:**

په شرکاؤ کښې د هرشريک صحيح العقيده مسلمان کيدل د قربانۍ دصحت دپاره شرط دې. کچرې يو شريک هم داسې وی چه دهغه عقيده صحيح نه وی نود هيڅ يو شريک هم قربانی به صحيح نه وی، په دې وجه ښه اطمينان کول پکار دی، چه هر شريک صحيح العقيده وی.

**صحيح العقيده مسلمان:** چه په ټولو ضروورياتو ددين باندې ايمان او اعتقاد لری.

**ضروريات دين :**چه دهغې ثبوت قطعی او يقيني کيدل مشهور او معروف وی،په دې وجه ددين دکوم امر قطعی اوبديهی دمنکرسره پکار دی چه قرباني دې اونکړې شی.مثلاً:

١ـ دعقيده ختم نبوت منکرين.

٢ـ منکرين حديث

٣ـ هغه سړې چه په قرآن کښې دتحريف قائل وی يا په اُم المؤمنين حضرت عائشهؓ باندې تهمت لګوی يا حضراتو شيخينو حضرت ابوبکروعمررضی الله عنهما ته نعوذبالله مرتد وائی .

٤ـ مشرک يعنی د الله تعالی سره په ذات يا څه صفت کښې مخلوق شريک کولو والا مثلاً غيرالله لره مختار کل يا دنفع نقصان مالک يا عالم الغيب ګڼړل.

د پاسنی عقيدو والا ذبيحه (حلاله) هم حرامه ده په هغوی باندې دې ذبح اونکړې شی ورنه قربانی به اونه شی.

**د قربانئ دپاره د ثواب نیت ضروری دې:**

د ټولو شرکاؤ قربانی دثواب په نیت کول ضروری دی که دیو شریک نیت د ثواب دپاره د قربانئ نه وی، بلکه صرف د غوښې خوړلو نیت ئې وی نو دیو شریک هم قربانی صحیح نه ده.

**په دیوالونو باندې وینه لګول:**

نن صبا دا رسم راوتلې دې چه قربانی کولو سره خلق دهغې وینه دکور په دیوال باندې لګوی او هغې لره د برکت باعث ګنړی. بس دا ناجائز دی، بهیدلې وینه نجس ده په دې وجه ددې نه خپله هم او خپل ماحول هم صاف ساتل پکار دی.

**د کور په دروازه باندې ښکر راځوړندول:**

بعضې خلق قربانې اوکړی د څاروی ښکر دکور په دروازه یا دیوال باندې لګوی او دې لره دبعضې مضرات نه بچ کونکی ګنړی. ددې هم اصل او حقیقت په اسلام کښې نشته دې بس ددې نه بچ کیدل پکار دی.

**حرام آمدن والا لره شریک کول:**

عموماً ددې خیال نه شی ساتلې چه ټول شرکاء په حلال آمدن سره قربانی کونکی دی،د جانچ پړتال نه بغیر هریو لره شریک کوی، په دې بعضې اوقات دټولو قربانی ضائع کیږی. د بینک،انشورنس کمپنئ ملازم یا څه بل حرام آمدن والا که دحرام آمدن والا نه ئې پیسې واخستې او په قربانئ کښې ئې شریک کړو نو په شرکاؤ کښې دچاهم قربانی صحیح نه شوه،ځکه چه دټولو شرکاؤ په نیت دقربت قربانی کول ضروری دی او په حرام مال سره قربت یعنی دثواب نیت کول جائز نه دی، بلکه په دې سره دکفر یره ده.

پاس ذکرشوې مسائلو سره چاته د اشکال کيدې شي چه يو سړې غلط عقيدې،غلط نيت او حرام آمدن سره دټولو حصې خرابې شوې او دټولو قرباني ولې ضائع شوه؟ په جواب باندې ښه ځان پوهه کړې چه په قربانۍ کښې تجزيه او تقسيم نه شي کيدلې چه شپږ حصوته صحيح او يوې حصې ته غلط اوويلې شي. څنګه چه د مونځ په څلورم رکعت کښې ئې دڅه داسې امر ارتکاب اوکړو چه مفسد صلوة (دمونځ ماتونکي) دې نو دا به نه شي وئيلې چه مفسد په څلورم رکعت کښې اومونډلې شو په دې وجه صرف څلورم رکعت فاسدشو، بلکه پوره مونځ باندې د فساد حکم به جاري وی.

**د قربانۍ پورې اوږې تږې اوسيدل دې ته روژه وئيل:**

عوام د قربانۍ پورې اوږې تږې پاتې کيدو ته روژه يا د نيمې روژې نوم ورکوی، دا دجهالت خبره ده. روژه خو دپوره ورځې وی او داختر په ورځ خو هسې هم روژه نيول حرام دی. البته د قربانۍ غوښې خوړلو نه ابتداء کول مستحب دي، خودا روژه نه ده، نه په دې کښې د روژې هومره ثواب دې نه د روژې نيت دې او نه دا حکم فرض يا واجب دې صرف مستحب دې او صرف د لسم تاريخ پورې مختص دې. لهذا که کومه علاقه کښې عوام دې لره روژه ګڼړی نو اهل علم لره دقربانۍ نه مخکښې څه خوړل پکار دی دې دپاره چه د عوامو اصلاح اوشی.

**د قربانۍ د څاروؤ عمرونه:**

☆ دچيلي،چيلۍ د پوره يو کال کيدل ضروری دی.ددې نه يوه ورځ هم کم نه وی، ګنې قرباني به نه کيږی.

☆ که دچيلۍ بچې په ۲ يا ۷ يا ۸ يا ۹ذی الحجه باندې پيدا شو نو دحضرت امام ابوحنيفهؒ د قاعدې مطابق هغه د دويم کال په

قربانۍ کښې نه شی لګیدلې، ځکه چه که د ۱۲میاشتې۳۰،۳۰ ورځې شو نو دپوره کال نه شو په دې وجه په ده باندې قربانی به جائز نه وی.

☆ که په اوله ذی الحجه باندې پیدا شو نو دهغه قربانی بیشکه صحیح ده، او بهترده چه د دوؤ کالو وی دپاره چه د اختلاف نه اوځی.

☆ اوښ اوښه دپوره پنځه کالو وی یوه ورځ هم کم نه وی ګنی قربانی به نه ادا کیږی، او که دزیات وی نو بهتر دی.

☆ غوا،غوائې،میښه،سنډا د پوره دوؤ کالو وییوه ورځ هم کم نه وی ګنی قربانی به نه ادا کیږی او که د زیات وی نو بهتر ده.

☆ ګډ او ګډه کم نه کم د شپږ میاشتو وی او هغه هم په دې صورت کښې چه کله دکال دعمر د ګډانو برابر دهغه صحت معلومیږی.

# په ځاروؤ کښې د عیبونو بیان

## دکوم عیب دار ځاروؤ قربانی چه جائز نه ده:

۱۔ دکوم چه یو یا دوه ښکرونه د جرړې نه وتلې وی.

۲۔ دکوم ګډ،چیلۍ چه پیدائشی طور باندې لکۍ نه وی.

۳۔ ړوند ځاروې.

٤۔ داسې کاڼړه ځاروې چه دهغه کاڼړې کیدل واضح په نظر راځی.

٥۔ داسې قدرې ګوډ چه د قربانۍ ځاې ته نه شی تللې، یعنی په تلو کښې ګوډه خپه په زمکه باندې نه لګی.

٦۔ داسې بیمار چه دهغه بیماری بالکل ښکاره وی.

۷۔ دکوم چه په پیدائشی طور باندې یو یا دواړه غوږونه نه وی.

۸۔ دکوم چه لکۍ،غوږیا د یوې سترګې نظر نیم یاددې نه

زياته حصه نه وی .

۹ـ دکوم چه غاښونه بالکل نه وی یااکثر غورزیدلې یانښوتلو په وجه سره ګیاه نه شی خوړلې.

۱۰ـ یا چاته چه د جنون مرض دومره حده پورې لاحق شوې وی چه ګیاه هم نه شی خوړلې.

۱۱ـ داسې خارښتی ښاروې چه ډیرنرې او کمزورې وی.

۱۲ـ دکوم چه پوزه کټ شوې وی.

۱۳ـ دکوم چه تیونه کټ کړې شوې وی.

۱٤ـ دکوم چه تیونه داسې اوچ شوې وی چه هغې ته پئ نه راځی.

۱۵ـ دکومې غوا چه دوه تیونه کټ کړې شوې وی.

۱٦ـ دکوم ګډې چیلئ چه د یو تی سر کټ شوې وی.

۱۷ـ د کوم اوښې یا غوا چه دوه تیونه ضائع شوې وی.

۱۸ـ دکومې غوا چه پوره یا د دریمې حصې نه زیاته ژبه کټ کړې شوې وی.

۱۹ـ جلاله یعنی دکوم ښاروی خوراک چه صرف نجاست او ګندګی وی.

۲۰ـ دومره کمزورې او نرې ښاروې چه دهغه په هډوکو کښې مغز نه وی.

۲۱ـ دکوم چه یوه خپه کټ کړې شوې وی.

۲۲ـ خنثٰی ښاروې چه په هغه کښې دنر او ماده دواړو علامات وی.

**د اندامونو چه څومره حصه نه وی نوقربانی جائز نه ده ؟**

ددې متعلق د امام ابوحنیفهؒ نه څلور روایات دی:

(۱)څلورمه حصه (۲)دریمه حصه (۳)د دریمې حصې نه زیات (٤) نیمه

بعضې اکابرینو د دریمې حصې والا اوبعضو د دریمې حصې نه د زیات والا روایت مطابق فتویٰ ورکړې ده،خو علامه شامی ددې

ځلورمې حصې والا روایت ته ترجیح ورکړې ده او دصاحبینو رحمهماالله قول هم ددې مطابق دې او امام اعظمؒ دې طرفته رجوع هم کړې ده. دارنګه علامه شامی رحمه الله فرمائی:

وفی البزازیة وظاهر مذهبهما ان النصف کثیرالخ وفی غایة البیان ووجه الروایة الرابعة وهی قولهما والیهما رجع الامام ان الکثیر من کلشیء اکثره وفی النصف تعارض الجانبان الخ ای فقال بعدم الجواز احتیاطا بدائع وبه ظهران مافی المتن کالهدایة والکنز والملتقی هوالرابعة وعلیها الفتویٰ کما یزکره الشارح عن المجتبی وکأنهم اختاروها لا ن المتبادر من قول الامام السابق هوالرجوع عما هو ظاهر الروایة عنه الی قولهما ۔ والله تعالیٰ اعلم [ردالمختار:۹/ ۵۳۶]

**د کومو ځاروؤ قربانی چه جائز، خو خلاف اولیٰ ده:**

۱۔ دکوم چه پیدائشی ښکرونه نه وی.
۲۔ دکوم چه ښکرونه مات شوې وی،خو د ماتیدو اثر جرړو ته نه وی رسیدلې.
۳۔ دومره بوډا وی په جفتی کولو باندې قادر نه وی.
۴۔ داسې غوا وغیره چه د بوډوالی په سبب د بچی راوړو نه عاجزه وی.
۵۔ حامله یا د بچی والا اوښه،غوایا چیلۍ ګډه.
۶۔ دکوم په تیونو کښې چه بغیردڅه بیمارۍ نه پۍ نه رائحی.
۷۔ کوم چه تږخیزی.
۸۔ کوم لره چه داغلې شوې وی.
۹۔ هغه ګډه چیلۍ چه دهغې لکۍ په پیدائشی طورباندې ډیره وړه وی.
۱۰۔ داسې کانړه ځاروې چه دهغه کانړه کیدل په طور باندې واضح نه وی.

۱۱۔ داسې ګوډ څاروې چه په تلو باندې قادر وی يعنی څلورمه خپه هم په زمکه باندې ايږدلې وی او په تلو کښې ددې نه مدد اخلی.

۱۲۔ بيمار داسې بيماری چه زياته ښکاره نه وی.

۱۳۔ دکوم څناورچه دغوږ،لَم،لکۍ ی‌ا د نظر دی‌نمې نه کمه حصه ضائع شوې وی.

۱٤۔ دکوم چه څه غاښونه نه وی خو ګياه خوړلې شی.

۱۵۔ ليونې څاروې چه دهغه ليونتوب داسې حدته رسيدلې وی چه خوراک نه شی کولې.

۱٦۔ خارښتی کوم چه څورب يعنی موټا تازه وی.

۱۷۔ دکوم چه غوږ څيرلې شوې وی يا کټ کړې شوې وی، خو دنيم نه کم. که د دواړو غوږونو څه حصه کټ کړې شوې وی او د دواړو کټ کړې شوې اجزاؤ مجموعه د نيم برابر شی نو احيتاطًا دې هغه قربانی اونه کړې شی، که چا اوکړه نو اوبه شی.

۱۸۔ چُچو ستر ګو والا.

۱۹۔ ګډيا هغه ګډه دکوم چه وړۍ کټ کړې شوې وی.

۲۰۔ چيلۍ دکومې چه ژبه کټ کړې شوې وی،په دې شرط چه ګياه په آسانۍ سره خوړلې شی.

۲۱۔ داسې نرې څاروې چه ډير کمزورې نه وی

۲۲۔ جلاله اوښه،کوم لره چه څلوی‌ښت ورځې تړلو سره ګياه ورکړې شوې وی.

د پاسنی ذکرشوی څاروؤ قربانی جائز ده،خو مکروه تنزيهی ده. مستحب دادی چه دقربانۍ څاروې دټولو عيبونو نه پاک وی.

# د قربانئ د ځاروؤ عیبونه

| اندامونه | هغه عیبونه دکوم په وجه سره چه قرباني جائز نه ده | هغه عیبونه دکوم سره چه قرباني جائز ده |
|---|---|---|
| ښکر | ☆ښکر د جرړې نه مات شوې وي چه دننه د سر مغز یا هدوکې ښکاره شوې وي | ☆صرف خَول او قوله ترینه وتلې وي.<br>☆یویادواړه ښکرونه کټ شوې یا مات شوې وي خو جرړې ئې سالم وي<br>☆پیدائشي ئې ښکر نه وي.<br>☆کرنټ یا کمیکل لګیدلې وي دکوم په وجه سره چه ښکران نه اوځي. |
| غوږ | ☆دواړه یا یو غوږ د دریمې حصې نه زیات مقدار کښې کټ شوې وي<br>☆پیدائشي دواړه یا یو غوږ نه وي. | ☆د دریمې حصې یا ددې نه په کم مقداردواړه یا یو غوږ کټ شوې وي.<br>☆ د غوږ مخکښې یاروستو کټ وي خو زوړنده وي.<br>☆غوږ موجود وي خو په اوږدوالی کښې شلیدو سره دوه حصې شوې وي.<br>☆په غوږونوکښې سورې کړې وي .<br>☆پیدائشي غوږونه واړه وي. |
| پوزه | ☆پوزه د دریمې حصې نه زیاته کټه شوې وي. | ☆دریمه حصه یا ددې نه کم مقدار کښې کټ شوې وي<br>☆په پوزه کښې سُوری کولو سره پیزوان اچولې شوې وي .<br>☆زکام او ټوخې ئې وي. |

| | | |
|---|---|---|
| غابښ | ☆پیدائشي بالکل غابښونه نه وي یااکثر پریوتلي وي چه څریدلی نه شي. | ☆څه غابښونه غورزیدلي وي خو زیات باقي وي او څریدلي شي. |
| ژبه | ☆د دریمې حصې زیاته کټ شوې وي. | ☆دریمې حصه یاددې نه کم مقدار کښې کټ وي. |
| سترګه | ☆د دریمې نه زیات نظر تلې وي. ☆کوم څارویې چه بالکل ړوند وي یاپه یوه کښې نظر نه وي. | ☆د دریمې یا ددې نه دکم نظر تلې وي. ☆سترګې چوچې وي. |
| خپې | ☆یوه خپه کټ شوې وي یا دومره ګوډ وي چه په تلو کښې په زمکه نه شي لګولې بلکه راکاږي ئې یا اوچته ئې نیولې وي په درې خپو باندې ګرځي. | ☆په خپوکښې ئې زخم وي خو هغه په زمکه باندې کیخودلو سره په هغې سهاره اخلي. |
| تیونه | ☆دګډې چیلۍ،یو تې او د اوښې،غوا،میښې دوه یا زیات تیونه اوچ شوې وي یا کټ شوې وي یاپیدائشي نه وي. ☆د تیونو سرونه کټ شوې وي چه بچې پرې خُله لګولوسره پیۍ نه شي څکلی. | ☆د اوښې،غوا،میښې،یو تې کټ یا اوچ شوې وي. |
| لکۍ/لم | ☆د لکۍ/لم د دریمې حصې نه زیات مقدار کښې کټ شوې وي. ☆پیدائشي ئی لکۍ/لَم نه وي. | ☆دریمې حصه یا ددې نه کم مقدار کښې کټ وي.☆د چیلۍ د ګډې په شان لَم وي. |

| | | |
|---|---|---|
| آله تناسل (یعنی ذکر) | | ☆آله تناسل کټ شوې وی او دجماع نه عاجز وی. |
| خصیتین یعنی آګئ | | ☆آګئ(دکوم څاروی چه آګئ کټ کړې شوی وی)یاخصی کولو سره بیکاره کړې شوې وی. |
| څرمن | ☆خارښتی یا په زخم کښې چینجی شوې وی دهغې په وجه سره دومره کمزورې شوې وی چه په هډوکو کښې مغز پاتې شوې نه وی. | ☆خارښتی وی یا په زخم کښې ئې چینجی شوې وی خو ددې په وجه سره دومره کمزورې شوې نۀ وی چه په هډوکو کښې مغز نه وی پاتې شوې.<br>☆په څرمن کښې رسولئ وی.<br>☆د جوتی کولو یا وهلو په وجه سره په بدن باندې نښې وی.<br>☆داغ ورکړې شوې وی. |
| وینبتۀ/وړئ | | ☆وړئ او وینبته کټ وی یا سوزیدلی وی. |
| دماغ | ☆څاروې دومره لیونې وی چه دڅریدو نه عاجزه وی. | ☆څاروې لیونې وی خو د څریدو نه عاجزه نه وی او څورب وی. |
| رحم/حمل | ☆د قریب الولادة بلاربې څاروی قربانی مکروه ده. | ☆حمل قریب الولادة نه وی نو بغیر دکراهت نه جائز دی.<br>☆شنډ څاروې په کوم کښې چه دبچی دزیګیدو صلاحیت نه وی. |

**دآچې غوا قرباني:**

دبهر ملکونو نه راغوښتلې شوې غواګانې يوقسم وړوکې قد او دنرو خپو والا وی او بعضې خلق هغې لره د خنزيرمشابه ښائی.ددې متعلق مشهوره ده چه په مغربی ملکونو کښې په خنزيرباندې دتحقيق په نتيجه کښې دا خبره مخې ته راغله چه دخنزير مادی په يو وخت لس دولس بچی راوړی،او دهغې په تيونوکښې پئ ډيرزيات وی او دا ټول بچی دهغې په خپلو پيو سره پاللې کيږی،نو هغوی په خپلې تجربې سره غوا لره په خنزيره حامله کړه،کله چه بچی پيدا شو نو هغه هم ددې قد ټيټ او ډيل ډول وو او دغوا په تيونوکښې پئ هم زيات وو. او س دمغربی ملکونو نه داسې قسم غواګانې ډير راغوښتلې شوې. ډير خلق ددې متعلق په تشويش کښې مبتلا دې دداسې غوا پئ او غوښه حلاله ده يا حرامه؟ دداسې غوا قربانی جائز ده يا نه؟ ددې متعلق شرعی حکم دادې چه اول خو دفارمی غواګانو متعلق چه کومې خبرې مشهوری دی دهغې يقينی تحقيق نشته چه واقعی داسې کيږی يانه؟ او کله پورې چه څه خبره په يقينی طورباندې ثابته نه وی دهغې شرعاً څه اعتبارنشته. دويم دا چه دبعضې ډاکټرانو په قول چه دلته زمونږ دغواګانو د پيو پيداوار ډير کم وو نو دحيواناتو ماهرينو آسټريليا، فرانس، جرمنی، برطانيه،امريکه او د هالينډ فريژين او د جرسی نسل دنر ماده منويه ئې راوخستله او په تجربه ګاه دحيواناتو کورنګئ کراچئ کښې ئې د سندهی نسل غوا لره په منصوعی طريقې چه کله حامله کړه نو دهغې خاطر خواه نتيجې راښکاره شوې،خو داسې د دوؤ نسلو په مخلوط طريقه افزائش دحيواناتو سره دغوا شکل،آواز،رنګ او قدوقامت کښې واضح فرق په نظر راغلو.حاصل دا چه په دې کښې

دخنزیر د پیوندکارئ دعمل دخل نشته دې. که داتسلیم کړې شی چه داخبرې صحیح دي نو بیاهم ددې نه دغوا په غوښه او د پیو په حلت باندې څه اثر نه پریوځی،ځکه چه کوم ځاروې په کوم یو جنس کښې شامل اوګنړلې شی ؟ ددې متعلق فقهاء کرامو رحمهم الله تصریح فرمائیلې ده ځکه چه هغه دمور تابع دی،مورچه دکوم جنس نه وی دهغه جنس به شمارلې کیږی اګرچه مور دبل جنس د نر نه حامله شوې ولې نه وی او بچې په مکمل طور باندې دنر مشابه وی. دارنګه د فقه حنفی په مشهور کتاب"ردالمختار" کښې ذکر دی چه که یوې چیلئ د شرمخ په شان بچې راوړو نو هغه بچې حلال دې لهذا دداسې غوا غوښه او پئ حلال او دهغې قربانی بغیردشبهې نه جائز ده.

**د حامله ځاروی قربانی**:

که کوم ځاروې حامله دې اودهغې قربانی اوکړې شوه نو جائزده. که دهغې په خیټه کښې بچې وی که هغه مړ وی نو دهغې خوړل حرام دی او که ژوندې وی نوهغه به هم دعام ځاروی په شان حلال کړی دهغې خوړل جائز دی.

که دقربانئ په ورځوکښې دې لره حلال کړې شی نو بیادهغې صدقه لازم ده او که د قربانئ د ورځو نه پس حلالولو سره اوخوړلې شی نو دهغې قیمت صدقه کړی.

داسې ځاروې چه حامله وی چه دهغې دبچی راوړلو وخت ډیر نزدې وی نودداسې ځاروی حلالول مکروه دی البته قربانی به ئې اوشی.

# د څاروی او قربانی کونکی سره متعلق مسائل

**څاروی د اخستلو نه پس عیب دار شو:**

که چا دقربانۍ دپاره څاروې واخستلو،بیادحلالولو دپاره د راوستلو نه مخکښې پکښې داسې عیب پیداشو چه دهغې په کیدو سره په دې قربانی جائز نه وه نو په مالدار باندې ضروری ده چه بل بې عیب څاروې قربانی کړی. په غریب باندې بدلول ضروری نه دی. ددې عیب دار څاروی قربانی کولې شی. خو که په سهولت سره کیدې شی نو هغه دې هم دبل څاروی قربانی اوکړی. البته که فقیرپه ژبې سره نذر منلو سره قربانی په خپل ځان باندې واجب کړې وه په ده باندې هم د بل بې عیب څاروی قربانی واجب ده.

**دخصی څاروی قربانی جائز بلکه افضل ده:**

بعضې خلق د خصی څاروۀ قربانی صحیح نه ګڼړی دا غلط خیال دې بلکه دخصی څاروی قربانی افضل ده. رسول اللهﷺ پخپله دخصی څاروی قربانې فرمائیلې ده.

**متفرق مسائل:**

دقربانۍ د څاروی پۍ، وړۍ او د څوټو حکم :په لاندینی صورتونو کښې دقربانۍ دڅاروی پۍ،وړۍ او څوټې په استعمال کښې راوړل دهغې فائده اوچتول بغیردکراهت نه جائز دی.

(۱) څاروې د کور ساتلې وی.

(۲) څاروې ئې اخستې وی خو د اخستو په وخت ئې دقربانۍ نیت نه وی کړې.

(۳) د قربانۍ په نیت سره اخستې وی خو دهغې ګزاره په بهر

ځریدو باندې نه وی بلکه په کور کښې چاره خوری.

که دقربانۍ په نیت سره اخستې شوې وی نودهغې پۍ،وړۍ څوټې په استعمال کښې راوستل جائز دی خو په استعمال کښې نه راوستل بهتر او احتیاط دې.د داسې ځاروی پۍ د یخو اوبو په ترمکې سره اوچول پکار دی که دحلالې نه پس وړۍ کټ کړې شی نو هغې لره په استعمال کښې راوستل جائز دی.هغې لره خرڅول دهغې قیمت په استعمال کښې راوستل صحیح نه دی.که خرڅ ئې کړی نوقیمت صدقه کول پکاردی.

**د قربانۍ ځاروې بدلول:**

ځاروې دکور ساتلې شوې وییا داخستلو نه پس د قربانۍ کولو نیت ئې وی نو دهغې بدلول دغنی اوفقیر دواړو دپاره جائز دی که دقربانۍ په نیت سره ئې اخستې وی نو په دې کښې درې روایات دی:

- ☆ دغنی اوفقیردواړو دپاره په نیت د اضحیې ځاروې اخستلو سره هغه د قربانۍ دپاره متعین نه وی، لهذ د دواړو دپاره بدلول جائز دی.
- ☆ د دواړو دپاره متعین کیږی. په غنی باندې په قدر دمالیت او په فقیرباندې ددې ځاروی قربانی واجب ده. په قدر دمالیت مطلب دادې چه په غنی باندې خو بعنیه هم ددې ځاروی قربانی حلالول خو واجب نه دی، خو ددې ځاروی دمالیت سره وجوب متعلق شو. ددې روایت مطابق د غنی دپاره ځاروې بدلول جائز یانه؟ په دې کښې مختلف اقوال دی،راجح قول دامعلومیږی چه ځاروې بدلول مکروه تنزیهې دې خو که چا بدل کړو اوبل ځاروې ئې بطور اضحیه ذبح کړو نواولنې

حلالول ضروری نه دی. هغې لره هم داسې پریخودل بغیر دکراهت نه جائزدی. په دواړو صورتونو کښې کچرې په ادنی څاروی سره ئې بدل کړل نوڅومره قیمت چه دمخکښنی څاروی زیات وو هغومره قیمت صدقه کول واجب دی. دا دواړه قولونه ظاهرالروایة دی. په اول قول کښې وسعت دې او آسانی زیاته ده اودویم قول احوط واشهر دې.

☆ دغنی دپاره په نیت د قربانۍ اخستلو سره څاروې دقربانۍ دپاره نه متعین کیږی،دفقیردپاره متعین کیږی،لهذا دغنی دپاره ددې څاروی بدلول ملطقًا جائز دی او دفقیردپاره ملطقًا ناجائز.په دې باندې څو مسئلې متفرع کیږی چه لاندې دی:

**څاروې ئې واخستلو، ددې نه پس دقربانۍ په ورځوکښې اولنې هم ملاؤ شو:**

په ذکرشوې صورت کښې د اول روایت مطابق (چه اوسع وایسر دې)غنی اوفقیردواړو ته اختیار دې چه دواړو څاروؤ کښې یو یا ددې دواړو نه علاوه بل کوم څاروې حلال کړی. فقیرته هم دا اختیار دې چه یو څاروې هم حلال نه کړی.

**دقربانۍ په نیت ئې څاروې واخستلو، بیاهغه ورک شویا مړ شو:**

په دې صورت کښې په غنی باندې د درې روایاتو مطابق بل څاروې قربانی کول واجب دی خواه د اول څاروی نه دکم قیمت والا وی، او په فقیرباندې څه هم واجب نه دی.

**د قربانۍ په نیت ئې څارويٍ واخستلو او هغه ورک شو دویم څارويٍ ئې واخستلو او دقربانۍ په ورځوکښې حلال کړو بیا دقربانۍ په ورځوکښې اولنې څارويٍ هم ملاؤ شو:**

په دې صورت کښې د اولنی روایت مطابق په غنی او فقیر دواړو باندې څه هم واجب نه دی.

**د قربانۍ په نیت ئې څارويٍ واخستلو او هغه ورک شو دویم څارويٍ ئې واخستلو خو دقربانۍ په ورځوکښې حلال نه کړو د قربانۍ د ورځو تیریدو نه پس اولنې څارويٍ هم ملاؤ شو:**

د اولنی روایت مطابق په غنی باندې واجب دی چه یو څارويٍ ژوندې یاد قربانۍ لائق څارويٍ قیمت صدقه کړی. په فقیرباندې څه هم واجب نه دی.

**د قربانۍ په نیت ئې څارويٍ واخستلو او هغه ورک شو دویم څارويٍ ئې واخستلو خو دقربانۍ په ورځوکښې ئې حلال کړو د قربانۍ د ورځو تیریدو نه پس اولنې څارويٍ هم ملاؤ شو:**

د اولنی روایت مطابق په غنی او فقیرباندې څه هم واجب نه دی.

**د قربانۍ په نیت ئې څارويٍ واخستلو خو دقربانۍ په ورځوکښې ئې حلال نه کړو:**

د اولنی روایت مطابق په غنی باندې همدا څارويٍ ژوندې یا کوم دقربانۍ لائق څاروی قیمت صدقه کول واجب دی. په فقیرباندې څه هم واجب نه دی.

**فقیرد قربانۍ په نیت سره څارويږ واخستلو او حلال ئې کړو بیا دقربانۍ په ورځوکښې مالدارشو:**

د اولنی روایت مطابق تقاضا داده چه په ده باندې څه هم واجب نه دی.

**په اوښ او غوا کښې دشریکانو تعداد:**

په یوه ګډه،چیلۍ باندې صرف یو کس قربانی کولې شی هرکله چه په اوښ او غواکښې د زیاتو نه زیات اووه کسان شریک کیدې شی.که د اوۀ نه زیات کسان په اوښ یا غواکښې شریک شو نو قربانی به اونه شی.

**د حلالولو نه پس چالره شریک کول:**

که څارويږ ئې حلال کړو ددې نه پس چالره نه شی شریک کولې تقسیم شوې وی یا نه وی شوې.

**څارويږ ئې متعین کړې وو خو قربانی اونه کړې شوه:**

که چا مالدار قربانی اونکړه،تردې چه د قربانۍ ورځې تیرې شوې نو اوس قربانی فوت شوه.که هغه دقربانۍ دڅارويږ په ژبې سره نذر منلوسره (چه دې خاص څاروی لره قربانی کول ماپه خپل ځان باندې لازم کړل) معین کړې ئې وو نو اوس به دقربانی د ورځو تیریدو نه پس دې دې څاروی لره په فقیرانو باندې صدقه کړی،که خرڅ ئې کړل نو دهغې قیمت او که حلال ئې کړو نودهغې ټوله غوښه او څرمن دې صدقه کړی. که د حلال شوې څاروی قیمت د ژوندی نه کم دې نو څومره چه کم وی هغومره صدقه کول هم ضروری دی،که غوښې نه ئې څه په خپله استعمال کړه نو دهغې قیمت به هم صدقه کوی.

**مالدارڅارويږ متعین کړې نه وو ، ورځې تیرې شوې:**

په یو کس باندې قربانی واجب وه،خو هغه غفلت اوکړو او قربانی ئې اونکړه که هغه کوم څارويږ متعین کړې نه وی نو دقربانۍ قابل

دمتوسط درجې ګډياچيلۍ قيمت په فقيرانو باندې صدقه کول واجب دی.د غوا د اوومې حصې قيمت صدقه کول کافي نه دې. دغه شان په دويم کال ددې دقضا په طور باندې څاروې حلالول هم کافي نه دې.

**فقير د ساتلې شوې څاروی د قربانۍ نيت اوکړو، بيائې قرباني اونکړه:**

که فقيرد قربانۍ دپاره څاروې اخستلې نه وو، بلکه څاروې دهغه سره دمخکښې نه موجود وو، دهغې دقربانۍ نيت ئې اوکړو نوپه هغه باندې قرباني واجب نه شوه،په دې وجه که چرې ورځې تيرې شوې،او هغه قرباني اونکړه نوپه هغه باندې څه هم واجب نه دی.

**په يو څاروی کښې دقربانۍ او عقيقې يا نذر نيت کول:**

که څوک سړې غوا واخلی اودهغې په يوه حصه کښې قرباني اوکړی اوپه بله حصه کښې ياڅه حصه دعقيقې دپاره مقررکړی نو داسې کول صحيح دی قرباني به ئې هم اوشی او عقيقه هم.دغه شان يوسړې د ليمې او قربانې دواړو دپاره يوه غوا حلاله کړی نو هم جائز ده،بياهم ددې دپاره شرط دادې چه هغه ګډ،چيلۍ يا ګډه نه وی غټ څاروې وی او غټ څاروی کښې هم اوومې حصې نه کم نه وی.

**څاروې هلاک شو:**

د قربانۍ دپاره اخستلې شوې څاروې هلاک شو يا چا پټ کړو نو په مالداربان‍دې د دويم څاروی قرباني واجب ده.د فقيرنه ساقط شوه،په هغه باندې ددويم څاروی قرباني واجب نه ده.

**د قربانۍ وصيت او توکيل:**

چادا وصيت اوکړو چه دهغه دمرګ نه پس دهغه دطرف نه قرباني دې اوکړې شی،نورئې څه وضاحت اونکړو چه څه قسمه څاروې دې

حلال کړې شی،نه ئې قیمت بیان کړو چه ددومره مالیت څاروې دې واخستلې شی نو بیاهم وصیت جائزاو نافذ دې،چه په یوه چیلۍ یا ګډ حلالولو سره به پوره شی.خو که چا ژوندی سړی دڅاروی قیمت یا تعین کولو نه بغیر چالره وکیل جوړکړو چه زما دطرف نه قربانی اوکړئ نو دا توکیل صحیح نه ده،که دې بل سړی قربانی اوکړه نو قربانی به نه کیږی.

**دغیر دطرف نه قربانی:**

د غوا په قربانۍ کښې دچا غائب سړی حصه دهغه په حکم سره یا دهغه دحکم نه بغیر شامل کړه نو دهغه سړی او ددې شریکانو قربانی به صحیح وییانه؟ په دې کښې تفصیل دې:

(۱) دبل دچاطرف نه نفل قربانی دهغه دحکم نه بغیر هم جائز ده او په اصل کښې پخپله دڅاروی دمالک یا دحصې اخستونکی قربانی ده دکوم ثواب چه بل چاته رسوی.

(۲) دبل چا په حکم سره ئې دهغه نفل یا د واجب قربانۍ حصه په غواکښې شامل کړه نو دټولو قربانی صحیح ده.

(۳) دبل چا دحکم نه بغیر دهغه د واجب قربانۍ حصې لره شامل کړه نو که دهغه دطرف نه دقربانۍ مستقل معمول وی نوهم دټولو قربانی صحیح ده.

(٤) بغیردحکم نه ئې دداسې سړی دقربانۍ حصه په غوا کښې اونیوله دچا دطرف نه چه دقربانۍ کولو مستقل معمول نه وی نودهغه سړی قربانی اونه شوه. په دې صورت کښې د نورو شریکانو قربانی اوشوه یانه؟ په دې کښې دفقهې مختلف عبارتونه دی،دعدم جواز قول احوط دې او د جواز قول دعقل

او درروایت مطابق دي،په دې وجه چه کله دنامزد کړې شوې حصې مالک هم پخپله حلاله کونکې یا اخستونکې دې نودده او دباقي شرکاؤ دقرباني نه صحيح کيدو څه وجه نشته.

(٥) دبل چاپه واجب قربانۍ کښې خپله چيلۍ حلاله کړه،هرکله چه هغه بل کس دده په چيلۍ باندې قبضه نه وه کړې نونه ئې خپله قرباني اوشوه او نه دهغه بل کس اوشوه، خواه دهغه په حکم سره ئې کړې وی یا دحکم نه بغیر.

(٦) که دبل چاپه حکم سره ئې چيلۍ واخستله او دهغه د طرف نه ئې قرباني اوکړه نو صحيح به شی.

## که مالک په داسې ملک کښې چرته چه اختر وی او دقرباني کونکی په ځاې کښې اختر نه وی:

داسې صورت په کوم کښې چه قرباني کونکی په داسې ملک کښې وی چرته چه اختر شوې وی مثلاً په سعودی عرب کښې اودهغه دطرف نه چه کوم کس قرباني کوی هغه په پاکستان کښې دې او په پاکستان کښې لوې اخترپه هغه ورځ نه وی نو دلته به قرباني معتبر نه وی ځکه چه وکيل او مؤکل دواړو دپاره د لوې اختر ورځ يعنی د سحر راختل شرط دې لهذا که دسحر راختلو یا په ښارونوکښې د اختر دمونځ نه مخکښې چه چا قرباني اوکړه هغه به صحيح نه وی.

## بل سړی بغیر د اجازت نه څاروې حلال کړو:

که چا دقربانۍ څاروې دهغه نه صراحةً اجازت غوښتلو نه بغير بل سړی حلال کړو نوکه هغه دمالک دپاره حلال کړو نو دا قرباني به دمالک دطرف نه وی او په حلاله کوؤنکی باندې به ضمان نه راځی او

که حلاله کونکی دخپل ځان دپاره حلال کړو نودهغې فیصله په مالک باندې موقوف ده،که هغه حلاله کونکی لره ددې دقیمت ضامن اوګرځوی نودا قربانی به د حلاله کوؤنکی دطرف نه اوشی اوکه مالک حلال شوې څاروې واخلی نودا قربانی به دمالک دطرف نه وی.

**د مړی د طرف نه قربانی:**

قربانی د مړی یا درسول اللهﷺیا د استاذ یا د مورپلاریا دچا رشته دار دطرفنه صحیح ده. دا قربانی په حقیقت کښې د څاروی په مالک باندې د حصه اخستونکی په شان ده دکوم ثواب به چه هغه ذکر شوې کس ته رسیږی.

## د څاروی د حلالولو او تقسیم کولو سره متعلق مسائل

**د حلالې دپاره راغورزولو سره عیب پیدا شو:**

څاروې د حلالې دپاره راوستلې شو او راغورزولو سره دهغه خپه ماته شو، یا څه بل څه عیب پیدا شو،مثلاً غوا دلاس نه خلاصه شوه اوپه دې دوران دهغې سترګه راوتله،بیا اونیولې شوه او حلاله کړې شوه،نو قربانی به صحیح وی. د حلالې کولو په وخت چاړه دلاس نه پریوتلو سره سترګه وغیره ئې ضائع شوه نو هم همدا حکم دې.

**بسم الله، الله اکبر صرف په حلاله کونکی باندې واجب دی:**

په عواموکښې مشهور دی چه دحلالې نه علاوه د څاروی نیولووالا اومدد کولو والا باندې هم بسم الله،الله اکبر وئیل واجب دی، دا غلط دی داصرف په حلاله کونکی باندې واجب دی.

**د ښځو ذبیحه هم حلال ده:**

بعضې خلق د ښځو ذبیحې لره صحیح نه ګڼړی دا هم غلط خیال دې. د پوهه ښځې او هلک او جینئ قربانی او ذبیحه صحیح ده.

**ذبح د فوق العقد حکم:**

کچرې کوم څاروی لره ئې د غوټې(د مرئ دپاره راوتلې هډوکی په شان) دپاسه نه حلاله کړه، یعنی غوټه لاندې پاتې شوه او څاروی لره ئې دمرئ بالکل آخری زنې سره متصل حصه سره ئې ذبح کړو نو بعضې خلق ګنړی چه دا حلاله اونه شوه او څاروې حرام شو ځکه په دې ځاې سره په حلالې سره هغه رګونه نه کټ کیږی دکومو چه کټ کول ضروری دی. دا دهغه غلط فهمی ده.حقیقت دادې چه د غوټې دپاسه حلالې سره هغه رګونه کټ کیږی دکوم چه په حلاله کښې کټ کول ضروری دی او د هغې نه په مکمل طور باندې وینه بهیږی، په دې وجه داسې قسمه څاروې بغیر دڅه شبهې نه حلال کیږی. څه قسمه شک دې اونکړې شی،البته ذبح کونکی ته پکار دی چه هغه دغوټې نه لاندې حلاله اوکړی چه احتیاط په دې کښې دې.

**څاروې بې قابو شو نو ذبح اضطراری جائز ده:**

که چرې څاروې بې قابو کیدو سره دلاس نه خلاص شو او په نیولو کښې رانغلو نو ذبحه اضطراری هم جائز ده،یعنی په چاړه،برچهی وغیره څه نوک دار آلې باندې د ذبحې په نیت سره بسم الله وئیلو سره د لرې نه اُولې. هغه دڅاروې په کوم ځاې کښې هم اولګی او څاروې هلاک شی نو څاروې به حلال شی. چیلئ په آبادئ کښې اوتختیدلې نو ذبحه اضطراری جائز نه ده ځکه چه په هغې پسې لګیدل او هغې په قابوکښې راوستلې شی،او که په صحراء کښې اوتختی نو ذبح اضطراری جائز ده، اوښ،غوا،میښه بې قابو کیدو سره اوتختی نو په هرصورت کښې ذبحه اضطراری جائز ده،خواه په آبادئ کښې اوتختی یا په صحراء کښې. دغه شان څاروی په چا حمله اوکړه او هغه په نیت د حلالې بسم الله وئیلو سره هغې لره هلاک کړه نوهم به حلال شی.

**د حلال څاروؤ اووه څیزونه خوړل حرام دی:**

۱:۔بهیدونکی وینه ۲:۔د مذکر څاروی ذکر۳:۔ آګئ٤:۔د مؤنث د تشو متیازو ځای٥:۔ ستغان ٦:۔مثانه ۷:۔پته (تریخې)

**د مړی د قربانئ غوښه خوړل:**

څوک سړې دمړی دطرف نه بغیر دهغه دوصیت نه نفل قربانی اوکړی نو دهغې نه پخپله خوړل او په نورو خلقوباندې خوړل جائزدی،په دې وجه چه ددې حال دخپلې قربانئ په شان دې.خو که مړی دقربانئ وصیت کړې وی نودهغې په خپله خوړل یا مالدارو باندې خوړل جائز نه دی،بلکه ټوله غوښه په فقراؤ باندې صدقه کول لازم دی.که په غټ څاروی کښې څو شریکان وی اوخپل مینځ کښې غوښه تقسیم کول غواړی، نو ضروری ده چه په پوره احتیاط سره وزن کولو سره تقسیم اوکړی. په اندازې سره تقسیم کول جائز نه دی، اګرچه خپل مینځ په کمی وبیشی معاف ولې نه کړې شی. دا حق شرعی دې دچا په معاف کولو سره هم نه معاف کیږی. په وزن نه کولو کښې کمې بیشې لازمی خبره ده په کوم کښې چه دسود ګناه به وی.

**د وزن د مشقت نه د بچ کیدل نه آسان تدبیر:**

که د وزن دمشقت نه بچ کیدل غواړې نودا آسان تدبیر دې چه سر خپې یا د کلیجی ټکړې کولو سره دهر یو په حصه کښې کیخودلې شی،په دې اندازې سره تقسیم کول به جائز هم وی.

**غوښه تقسیم کول په کوم صورت کښې ضروری نه دی؟**

(۱) وزن کولو سره برابر تقسیم کول په هغه صورت کښې ضروری دی چه شرکاء په خپل مینځ کښې تقسیم کول غواړی،که ټوله

غوښه په خلقو کښې تقسیم کول غواړی یا په هغوی باندې خوړل غواړی نو دتقسیم کولو ضرورت نشته. البته که په شریکانو کښې چا په ژبې سره د نذر منلو قربانی په خپل ځان باندې واجب کړې وی نودهغه حصه دې جدا کولو سره په فقراؤ باندې صدقه کول واجب دی.

(۲) که چا پوره ښاروې دخپل کور دخلقو دپاره ایخودلې وی نو تقسیم کول ضروری نه دی، مثلاً غوا ئې واخستله او دهغې یوه حصه دخپل ځان دپاره یوه حصه د ښځې دپاره اوباقی حصې دبالغ اولاد دپاره کیږدی،بیا د حلالې نه پس پوره غوښه د تقسیم کولو نه بغیر په کور کښې کیخودله، او ټول په یو کور کښې اوسیږی او خوراک مشترک خوری نو جائز دی.

**د قربانۍ د غوښې درې حصې کول مستحب دی:**

افضل دادی چه دقربانۍ غوښه درې حصوکولو سره یوه حصه دخپل اهل وعیال دپاره،ایخودل یوه حصه دخپل رشته دارانو دپاره او یوه حصه په فقیرانو غریبیانانوکښې تقسیم کړۍ. کوم سړی چه اهل عیال زیات وی نو هغه ټوله غوښه ځان دپاره هم ایخودلې شی. دا د استحباب نه خلاف ده.

## د قربانۍ او نذر سره متعلق د عوامو بعضې غلطې مسئلې

**مسئله:۱** بعضې عوام وائی چه د لوې اخترپه ورځ د قربانۍ پورې په روژه کښې اوسه، دا بې اصل دی.البته دقربانۍ نه مخکښې خوراک نه کول مستحب دی خو هغې ته روژه نه شی وئیلې.

**مسئله:۲** بعضې خلق د بدهیه ځاروی قربانی صحیح نه ګڼړی بس دا دهغوی غلطی ده، بلکه دبدهیه ځاروی خو نور هم زیات فضیلت دې، زمونږ پیغمبر ﷺ دبدهیه ګډې قربانی کړې ده.

**مسئله:۳** ډیره مشهوره ده چه دعقیقې غوښه د ماشوم مور پلار،د دوارو طرف نه نیا نیکه باندې خوړل صحیح نه دی.بس ددې هم څه اصل نشته. ددې حکم دقربانۍ په شان دې.

**مسئله:٤** اکثر عوامو لره لیدلې شوې دی چه دمَنّت(نذر) شرینې وغیره جمات ته راوړی او په عوامو ئې تقسیموی یا دنذر څیز پوخ کړی عام خلق راغواړی په هغې کښې بعضې سیدان او مالداره خلق هم وی . حالانکه سید او مالدار ته ورکولو سره نذر نه اداکیږی.دغه شان اکثرځایونو کښې د نذر شرینی وغیره دخپل خاندان او کوروالو ته او تقسیم کونکی په عامو لارو باندې ولاړ وی غنی،سید فقیرټولو باندې ئې تقسیم کوی دا غلط دی په دې طریقه نذر نه ادا کیږی، پس څومره مقدار چه غیرمستحق سید،مالدار وغیره ته ورکړې وی دومره قدرې دوباره مستحقینو فقراؤ ته ورکول پکار دی.

**مسئله:٥** بعضې عوامو نه اوریدلې شوې دی چه کوم سړې دقربانۍ حصه واخلی هغه د ذی الحجې د اول تاریخ نه غوښه خوړل بندول پکار دی. بس داهم غلط دی.

**مسئله:٦** ډیرې ښځې دیکم ذی الحجې نه د خاوند سره ملاقات او کوروالی لره شرعًا ګناه ګڼړی بس داهم غلط دی .

[اغلاط العوام از حکیم الامت مولانا اشرف علی تھانوی ص:۷۷،۷٦]

## د ذبحې غلطۍ:

**مسئله:۱** مشهور دی چه دحلاله کونکي (قصاب وغیره) ښځې به نه کیږی .بس دا غلط دی.

**مسئله:۲** بعضې خلق وائی چه په کوم چاقو سره څاروې حلال کړې شی دهغې دحلال کیدو شرط دادې چه په دې چاقوکښې درې میخونه وي (یا دڅه لرګی ټکړاوی) د غلط دی.

**مسئله:۳** مشهور دی چه د ولدالزنا(حرام زاده) حلاله صحیح نه ده دا هم غلط دی.

**مسئله:٤** بعضې عوام د ښځو حلالې لره صحیح نه ګڼړي،بس دا هم غلط دی،بلکه د مسلمان نابالغ سمجهدار هلک،جینۍ حلاله هم حلال دی.

**مسئله:۵** په بعضې عوامو کښې مشهور دی چه د حلاله کونکی په معین باندې بسم الله الله اکبر واجب دی بس داهم غلط دی. البته د ذابح په شریک باندې بسم الله الله اکبروئیل واجب دی، په چاړه نیولو کښې مددکونکی شریک دې، او دڅاروې سراوخپې نیولو والا معین دې، په شریک او معین کښې دعدم فرق په وجه سره دا غلطی کیږی.

**مسئله:٦** بعضې عوام ګڼړی چه د ذابح مدد کولو والا مثلاً څاروی نیولو والا کافر وی نو ذبیحه حلاله نه ده دا ګڼړل بالکل غلط دی ځکه چه په دې صورت کښې کافر صرف معین دې نه چه ذابح او نه دذابح شریک په دې وجه به داسې ذبیحه حلاله وی.

**مسئله:۷** مشهوردي چه کله انده ماته کړې شی نو په هغې دې مخکښې

تکبیر اووئیلې شي،سپینه انده تربتر، نه دهغې خپې نه دهغې سر. سنت خلیل الله الله اکبر،بس ددې هم څه اصل نشته.

**مسئله:۸** مشهوره ده چه کونتره سیده ده په دې وجه ددې ښکار نه دی کول پکار بس داهم غلط خبره ده. [اغلام العوام:ص۸۲]

**مسئله:۹** مشهوره چه چرګه کله اذان اوکړی نودا منحوس ده دې لره حلالول پکار دی دا هم غلطه خبره ده.

# د قربانۍ د څرمنې احکام

### ☆ څرمن په خپل استعمال کښې راوستل جائز دی:

د قربانۍ د څرمنې د قربانی کونکی او د هغه داهل وعیال نور خلقو دپاره په خپل استعمال کښې راوستل جائز دی. جائې نماز، دسترخوان، مشکیزه، ډول موزه څپلۍ وغیره څه ترینه څیز هم جوړولې او استعمالولې شی.

### ☆ دخپل استعمال دپاره دقربانۍ د څرمنې نه جوړشوې څه څیز لره په کرایه با ندې ورکول جائز نه دی:

د څرمنې نه لاندې ذکرشوې څیزونو نه څه څیزئې جوړ کړو نو هغې لره په کرایه باندې ورکول جائز نه دی،که چا په غلطۍ سره په کرایه باندې ورکړو نو کومه کرایه چه ئې اخستې ده هغه صدقه کول واجب دی.

### ☆ څرمن یا دهغې جوړشوې څیز هبه جائز ده:

دقربانۍ څرمن یا دهغې نه جوړ شوې څیز بغیر دڅه عوض نه چاته هبه کښې ورکول جائز دی، چاته چه ورکړې شی خواه هغه سید اومالدار وی، یاخپل مورپلار او اهل وعیال وی، څوک رشته دار یا پردې وی هریوته ورکول جائز دی.

☆ **څرمن په معاوضه کښې ورکول جائز نه دی:**

په قربانۍ کښې څرمن،وړۍ،کولمې،غوښه،چربی یعنی دڅاروی څه حصه هم دڅه دخدمت او مزدورۍ په معاوضه کښې ورکول جائز نه دی.په بعضې علاقو کښې څرمن قصاب ته د مزدورۍ په طور باندې ورکولې شی. د قربانۍ څه څیز هم قصاب ته په اجرت کښې ورکول جائز نه دی. ددې اجرت جدا ورکول پکاردی. امام او مؤذن ته هم د تنخواه او اجرت په طور باندې ورکول جائز نه دی. بطور هدیه هرچاته ورکولې شې.

☆ **څرمن خرڅول:**

د قربانۍ څرمن یا دهغې نه جوړشوې څیز لره د خرڅولو تفصیل لاندې ذکردې:

(۱) کچرې د روپې په عوض کښې ئې خرڅ کړو نو حاصل شوې رقم په فقراؤ باندې صدقه کول واجب دی.

(۲)دڅه داسې څیز په عوض کښې ئې خرڅ کړوچه سره باقی پاتی کیدو په استعمال کښې نه راځی یعنی هغې لره د خرچ کولو نه بغیر دهغې نه نفع نه شی اوچتولې، مثلاً دخوراک څکاک څه څیز، تیل،پټرول،رنګ وروغن، پخپله ئې استعمالول جائز نه دی صابن وغیره نواو صدقه کول ئې واجب دی.دقربانۍ څرمن ددې څیزونو یا روپو په عوض کښې صدقه کولو په نیت سره خرڅ ئې کړو نوڅه ګناه پکښې نشته البته دخپل ځان په نیت سره ئې خرڅول مکروه دی.په کوم چه استغفار کول لازم دی ددې څیزونو صدقه کول په دواړه صورتونو کښې واجب دی.

(۳)که دقربانۍ څرمن یا دهغې نه جوړشوې څه څیز د څه داسې څیز په بدله کښې ئې خرڅ کړوچه باقی پاتې کیدونکی په استعمال کښې راځی. یعنی هغې لره دخرچ کولو نه بغیر فائده اوچتولې شې. مثلاً کپړې،لوښی،کتاب،قلم وغیره نو ددې څیزونو په فقیرانو باندې صدقه کول واجب نه دی، پخپله استعمالول،هبه کول،خیرات کول ټول جائز دی.

(٤) څرمن دڅه باقي پاتې کيدونکې څيز په عوض کښې ئې خرڅ کړو بياهغه څيز ئې دخوراک څکاک يا په استعمال سره خرچ کيدونکې دڅه څيز په بدله کښې ئې خرڅ کړو نو حاصليدونکې رقم صدقه کول واجب دي.

☆ **د څرمن مصرف**:

په کوموصورتونو کښې دڅرمن نه حاصل شوې رقم يا څه څيز صدقه کوله واجب دي نو،هغه صدقه هغه فقيرانو مسکينانوته به ورکولې شي چاته چه زکوة ورکول صحيح وي. کومو خلقو ته چه زکوة ورکول جائز نه دي هغوی ته دا صدقه ورکول هم جائز نه دي. په چاچه زکوة يا قرباني واجب وي هغه ددې صدقې مستحق نه دې.

☆ **پلارکه مالداروی نوبچوته صدقه ورکول**:

کچرې پلار مالداره وي نو دهغه نابالغه بچو ته صدقه ورکول جائز نه دي. او بالغ بچې که مالدار نه وي نو هغوی ته دا صدقه ورکولې شي.دغه شان ديومالداره کس ښځه مالداره نه وي نو هغې ته دا صدقه ورکولې شي. که دنابالغه بچو مور مالداره وي پلار ئې مالداره نه وي نو دې بچو ته هم صدقه ورکولې شي.

☆ **سيّد ته صدقه ورکول**:

سيد او بنوهاشم (يعني چه کوم خلق دحضرت علي،حضرت عباس، حضرت جعفر،حضرت عقيل ، حضرت حارث بن عبدالمطلب رضی الله تعالی عنهم اولاد وي) هغوی ته دا صدقه ورکول جائز نه دي. که دوی حاجت مند وي نو مسلمانانو ته پکار دي چه هسې دهغوی مدد اوکړي او دې لره دخپل ځان دپاره سعادت اوګنړي.

☆ **مورپلاريا اولاد ته صدقه ورکول**:

خپل مور پلار،دواړه طرفته نياګانو،نيکونو،غره نيا،غرنيکه وغيره ته دا صدقه ورکول جائز نه دي،په دې سره به واجب الادا نه وي. د مورپلار خدمت هسې هم د اولاد په ذمه فرض دي. دغه شان اولاد ته،د دواړو طرف نه نواسن نوسو وغيره ته دا صدقه کول جائز نه دي،دغه شان خاوند اوښځې يوبل ته دا صدقه ورکول جائز نه دي. ذکرشوې

افرادو نه سیوا ټولو رشته دارانو ته دا صدقه ورکول، جائز دی.په دې شرط چه هغه مستحق د زکوة وی،بلکه هغوی ته په ورکولو کښې دوچنده ثواب دې،یو دصدقې، دویمه دصله رحمې.

☆ **د څه خدمت په معاوضه کښې صدقه ورکول:**

چاته د مزدورئ یا حق د خدمت په طور باندې دا صدقه ورکول جائز نه دی.لهذا دقصاب مزدوری یا امام مؤذن ته دخدمت د معاوضې په طور باندې هغوی ته دا صدقه ورکولو سره به واجب ادا نه شی.

☆ **څرمن او دهغې رقم په طور د تمليک ورکول ضروری دی:**

زکوة او نور صدقات واجبه په شان ددې صدقې د ادا کولو دپاره هم دا شرط دې چه چا مسکین ته دا څرمن یا ددې رقم په مالکانه طور باندې ورکړې شی چه په هغې کښې د هرقسم اختیار وی.دارنګه هغه مسجد، مدرسه، شفاخانه،کنوئې،پل یا څه بله د خیرښیګړې ادارې په تعمیرکښې خرچ کول جائز نه ده.اګرچه هغه اداره د مسکینانو د خدمت دپاره وقف ولې نه وی، ځکه په دې صورت کښې چا مسکین لره مالک جوړول او دهغه په قبضه کښې د ورکولو څه صورت نه شی موندلې دغه د چا لاوارثه په کفن دفن یا دچا مړی د قرض په ادا کولو کښې خرچ کول جائز نه دی. څه داسې مدرسې یا انجمن وغیره ته ورکول هم جائز نه دی چرته چه غریبانانو ته په مالکانه طور باندې هغه صدقه نه شی ورکولې.بلکه د ملازمینو په تنخواګانو یا تعمیر او فرنیچر وغیره انتظامی امورو باندې خرچ کولې شی.البته که په کومه اداره کښې مسکینانو طلباؤ ته مفت خوراک وغیره ورکولې شی یا څه دخیرښیګړې اداره څرمن یا ددې په رقم سره د نورو مسکینانو کفالت کوی نو هلته دا صدقه او څرمن ورکول جائز دی.

☆ **مسکین د صدقې وصولولو نه پس چه چرته غواړی خرچ کولې شی:**

که څرمن یا ددې رقم ئې دچامسکین په ملک کښې ورکړو او صراحت ئې اوکړو چه ته په پوره طورباندې ددې مالک ئې،مونږته پکښې څه اختیار نشته،بیاهغه په خپل خوشحالئ سره دې رقم لره په،مسجد،مدرسه یا څه

قسمه دخیرښیګړې ادارې په تعمیر یا د هغې د ملازمینو په تنخواګانو وغیره کښې ئې دخپل طرف نه خرچ کړی نو دا جائز دی.

☆ **حیله تملیک:**

په بعضې اداروکښې دحیله تملیک دا طریقه اختیارولې شی چه د زکوة یا څرمنو رقم یا دنورو صدقاتِ واجبه رقم څه مسکینانو ته ورکولو سره بیادهغوی نه واپس اخستلې شی. چاته چه ورکولې شی نو هغوی ته یقین وی چه ماته په دې مال کښې اختیار نشته، که ځان سره ئې اوساتم نو د ادارې مشران نور خلق به مې ملامت کړی،ددې یرې او شرم د وجې نه هغه بې چاره هغه رقم واپس په چنده کښې ورکوی.ممکن ده چه بعضې افراد د ترویج اواشاعت په نیت سره په طیب خاطرهم واپس کوی،خو دټولو په باره کښې دا یقین کول مشکل دی.په دې وجه دسخت ضرورت په وخت دا صورت اختیارولې شی چه مسکین ته اووئیلې شی چه ته دغنی نه د خپل ځان دپاره قرض واخله ادارې ته ئې ورکړه، بیا د ادارې په تعمیر وغیره هرمصرف کښې به خرچ کولې شی، او په اداره کښې د زکوة صدقاتِ واجبه چه کوم رقم وی هغه دې دې مسکین ته د قرض اداکولو دپاره ورکړې شی، چه هغه په دې سره خپل قرض ادا کړی.

☆ **څرمن هم په شرکاؤکښې شریکه ده:**

دکوم غټ څاروې قربانی چه څو شریکان یوځاې کیدو سره کوي،دهغې دغوښې په شان څرمن هم په ټولو شریکانو کښې به مشترک وی،لهذا دیو شریک دپاره دا جائز نه دی چه دبل دحصې څرمن بغیرد اجازت دهغوی نه ځان سره کیږدی یا ئې چاته ورکړی. که باقی شریکان خپله خپله حصه هبه کړی یائې دې دهغوی نه واخلی نو اوس هرقسمه تصرف پکښې کولې شی. البته که هغه دا څرمن خرڅه کړه او په معاوضه کښې رقم یا څه څیز حاصل کړی چه د رقم په حکم کښې دې یعنی دخرچ کولو نه بغیر استعمالیدې نه شی نو دخپلې حصې قیمت صدقه کول واجب دی، او دباقی حصو رقم ځان سره ساتلې شي.

### ☆ د قربانۍ پيړې، رسۍ وغيره:

د قربانۍ د څاروی پيړې،رسۍ وغيره لره دڅه خدمت په معاوضه ورکول جائز نه دی.دې څيزونو لره صدقه کول مستحب دی،په خپل استعمال کښې ئې هم راوستلې شې دڅرمنې حفاظت ضروری دې: بعضې خلق د څاروی څرمن داسې اوباسی چه په هغې کښې چاړې لګيدو سره سُورې کوی يا په څرمن باندې څه غوښه پاتې شی، په کوم سره چه څرمنې ته نقصان رسی،دغه شان بعضې خلق د څرمنې د ويستلو نه پس ددې حفاظت نه کوی،په سړک باندې بيکاره يا ډير کم قيمته والا پاتې شی،داټول کارونه په تبذيريعنی فضول خرچۍ کښې داخل دی،خامخا ثواب ضائع او ګناه لازم. په دې وجه څرمن په احتياط ويستلو سره د ضائع کيدو نه بچ کول شرعًا ضروری دی.

### ☆ د څرمن اخستلو نه پس هرقسم تصرف پکښې جائز دی:

چاچه دقربانۍ څرمن واخسته،هغه ددې مالک شو په دې کښې هرقسمه تصرف کولې شی خواه ځان سره ئې ساتی يا خرڅه ئې کړی قيمت په ځان خرچ کوی.

### ☆ او که چا په زبردستۍ څرمن يوړله يا ئې چا پټه کړه:

که يو کس يا اداره په زبردستۍ سره څرمن يوسی اوهغه دې لره په غيرشرعی مصرف کښې استعمالوی يا څرمن چاپټه کړه نودې سره په قربانۍ باندې څه اثر نه پريوځی. په خپله خوشحالۍ سره داسې ځاې يا اداره ته نه دی ورکول پکارکوم چه دې لره په غيرشرعی مصرف کښې استعمالوی.